# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمې

ډاکټر محمد عثمان نظامی

پاره شمیره 10

# بسم الله الرحمن الرحيم

۞ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾ ۞

مخکې ذکر شو چې د غنيمت د مالونو د تقسيمولو فيصله او اختيار د الله تعالى او د پيغمبر «صلى الله عليه وسلم» سره دی،اوس په دې مبارک آيت کې د الله تعالى فيصله راغله،فرمايي!

وَٱعۡلَمُوٓاْ تاسو پوه شئ أَنَّمَا چې بېشکه هغه څه غَنِمۡتُم چې تاسو غنيمت نيولې دي(په جنګ کې د کافرانو څخه) مِّن شَيۡءٖ د هر شي څخه فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ نو بېشکه چې د هغه(ټول مال) پينځمه برخه به د الله تعالى(د دين د خدمت) دپاره وَلِلرَّسُولِ او د پيغمبر عليه السلام (د ضرورت)دپاره وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ او(د پيغمبر عليه السلام) د خپلوانو(د ضرورتونو) دپاره وَٱلۡيَتَٰمَىٰ او د يتيمانو وَٱلۡمَسَٰكِينِ او د مسکينانو وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ او د مسافرو (د ضرورتونو دپاره،ورکول کيږي) إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم که چيرته تاسو ايمان(او يقين) لرئ بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَمَآ او په هغه(کومک)باندې أَنزَلۡنَا چې نازل کړئ وو مونږ عَلَىٰ عَبۡدِنَا په خپل بنده(نبي عليه السلام)باندې يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ په ورځ د فيصلې(د حق او د باطل،يعنې) يَوۡمَ په ورځ ٱلۡتَقَى د مخامخ کيدلو ٱلۡجَمۡعَانِۗ د دوه ډلو(د مسلمانانو او کفارو په بدر کې) وَٱللَّهُ او الله تعالى عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی ﴿٤١﴾

إِذۡ أَنتُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ وَٱلرَّكۡبُ أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ وَلَوۡ تَوَاعَدتُّمۡ لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡمِيعَٰدِ وَلَٰكِن لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا لِّيَهۡلِكَ مَنۡ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٖ وَيَحۡيَىٰ مَنۡ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٖۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾

إِذۡ (یاد کړئ هغه وخت) کله چې: أَنتُم تاسو بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا (مديني منورې ته د بدر د وادې) په نيزدې غاړه وئ وَهُم او هغوی(يعني د مشرکانو لښکر) بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ (د مديني منورې څخه د بدر د وادې) په لرې غاړه وو وَٱلرَّكۡبُ او(د قريشو) قافله أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ د ستاسو څخه ښکته وه(د درې مايلو په فاصله کې) وَلَوۡ که چيرته تَوَاعَدتُّمۡ تاسو وعده(هم سره)کړې وه(چې په يو وخت باندې به دې ځايونو ته راځو،نو) لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ خامخا به تاسو وعده خلافي کړئ وه فِي ٱلۡمِيعَٰدِ په وعده کې(يعني که تاسو يو د بل سره وعده هم کړې وه چې په فلانکې وخت به فلانکې ځای ته راځو،نو دا ستاسو دپاره ناممکنه وه،حتماً به يوه ډله مخکې او بله وروسته رسيدلې وه،او کيدای شي چې قافله د خطر د ځای څخه تيره شوې وه،چې په هغې صورت کې بيا د جنګ کولو امکان کم وو،ځکه چې د مشرکانو د لښکر د مشرانو په زړه کې هم د محمد«صلی الله عليه وسلم» او د مؤمنانو د ايمان څخه ويره وه،او عامو مشرکانو هم شايد دا فکر کړئ وو،چې مونږ خو ابوجهل د قافلې د حفاظت دپاره راوستې يو،نو چې قافله تيره شوې ده،نور نو د جنګ کولو څه فايده ده،نو کيدای شي چې بيرته مکې خواته پرته د جنګ څخه ګرځيدلې وو.او جنګ نه وو شوئ) وَلَٰكِن ليکن (الله تعالی داسې اسباب برابر کړل چې په يو وخت کې د مؤمنانو لښکر د بدر د وادې شرقې غاړې ته چې د مديني منورې سره نيزدې وه،راورسيدلو.او د مشرکانو لښکر د بدر د وادې

جنوبي غاړې ته کومه چې د مديني منورې څخه لرې او مکې شريفې ته نيزدې وه،راورسيدلو.او په همدې وخت کې قافله هم د دوی څخه ښکته درې مايله لرې وه،بايد پوه شو چې معمولاً عامه لار چې قافلې به د مديني په لار مکې ته تللې،نو د بدر د شرقې غاړې څخه به د بدر وادې ته داخليدلې او د جنوبي غاړې څخه به د بدر د وادې څخه وتلې او د مکې په طرف به تللې يا په بل عبارت:د کوم طرف څخه چې قافله د بدر وادې ته داخليدله هلته د مسلمانانو لښکر وو،او د کوم طرف څخه چې د بدر د وادې څخه د مکې په طرف وتله هلته د قريشو يا کفارو لښکر وو،نو کله چې الله تعالی داسې اسباب برابر کړل چې درې واړه په يو وخت هلته راورسيدل،نو هيڅ چا ته د بيرته ګرځيدلو او جنګ نه کولو موقع برابره نه شوه،ځکه مشرکانو وليدل چې د بدر په شرقي غاړه کې په کومه چې د قافلې د راننوتلو لار وه، د مسلمانو لښکر دی،او قافله يې په خطر کې ده، نو د جنګ کولو جذبات يې راوپاريدل،او دا هر څه د دې دپاره وشو!) لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ تر څو چې الله تعالی فيصله وکړي أَمۡرًا د هغه کار كَانَ مَفۡعُولٗا چې کيدونکئ و لِّيَهۡلِكَ د دې دپاره چې هلاک شي مَنۡ هغه څوک هَلَكَ چې هلاک شو عَنۢ بَيِّنَةٖ وروسته د يو واضح دليل څخه وَيَحۡيَىٰ او ژوندی پاتې شي مَنۡ هغه څوک حَيَّ چې ژوندی(پاتې) و عَنۢ بَيِّنَةٖۗ وروسته د يو واضح دليل څخه(يعني مخکې د دې څخه چې په کفر کې هلاک شي بايد چې حق ورته واضح شي ځکه چې ابوجهل او نورو مشرکانو په بيت الله کې سوال کړئ وو چې:يا الله هر څوک چې په حقه وي د هغوی کومک وکړه او فتحه ورکړه،نو د داسې يو لښکر چې تعداد يې د مشرکانو د لښکر دريمه برخه وه،او جنګي سامان يې هم تقريباً دوه آسونه او اته تورې وې،نو د داسې کمزورې لښکر پواسطه د مشرکانو داسې لښکر ته شکست ورکول چې

جنګيالې يې زر کسان او په جنګي سامان هم پوره بار وو،آيا په عقل دا فتحه ممکنه وه؟هيڅکله نه،بلکې دا فتحه د الله تعالى مرسته او کومک و،چې د مشرکانو او کفارو دپاره دا واضحه دليل و چې:نبي عليه السلام حق پيغمبر او اسلام حق دين دى.او همدارنګه څوک چې د بدر د جنګ څخه وروسته ژوندي پاتې وو،د هغوى دپاره هم دا يو واضحه دليل وو چې اسلام حق دين دى ځکه چې د الله تعالى نصرت او مرسته يې په سترګو وليدله چې د مسلمانانو سره يې وکړه.) وَإِنَّ ٱللَّهَ او بېشکه الله تعالى لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ خامخا اوريدونکئ (او) پوه دى. ﴿٤٢﴾

إِذۡ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلٗاۖ وَلَوۡ أَرَىٰكَهُمۡ كَثِيرٗا لَّفَشِلۡتُمۡ وَلَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ سَلَّمَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٤٣﴾

إِذۡ (اى پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» ياد کړه)هغه وخت يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ چې الله تعالى دروښودل تا ته هغوى(يعنې کفار) فِي مَنَامِكَ په خوب کې قَلِيلٗاۖ لږ وَلَوۡ او که چيرته أَرَىٰكَهُمۡ هغه«جل جلاله» درښودلې وو هغوى(يعنې کفار) تا ته كَثِيرٗا ډېر لَّفَشِلۡتُمۡ خامخا به تاسو بې زړه شوي وئ وَلَتَنَٰزَعۡتُمۡ او خامخا به تاسو اختلاف کړئ وو فِي ٱلۡأَمۡرِ د جنګ په باره کې(ځکه د کفارو د ډېروالي په سبب به بې زړه شوي وئ،چا به ويلې چې جنګ کوو،او چا به ويلې چې جنګ نه کوو) وَلَٰكِنَّ ليکن ٱللَّهَ الله تعالى سَلَّمَۚ وساتلئ(د بې زړه توب،او د بې زړه توب په سبب د اختلاف څخه) إِنَّهُۥ بېشک هغه«جل جلاله» عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ د سينو په خبرو باندې ښه عالم دى ﴿٤٣﴾

وَإِذۡ يُرِيكُمُوهُمۡ إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ قَلِيلٗا وَيُقَلِّلُكُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِهِمۡ لِيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗاۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٤٤﴾

وَإِذۡ او(ياد کړئ)هغه وخت چې يُرِيكُمُوهُمۡ (الله تعالی) ښکاره کړل تاسو ته هغوی(يعنې کفار) إِذِ ٱلۡتَقَيۡتُمۡ کله چې تاسو سره مخامخ شوئ( په بدر کې) فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ ستاسو په سترګو کې قَلِيلٗا لږ.(يعنې کله چې مؤمنان او کفار په بدر کې سره مخامخ شول،نو الله تعالی د مسلمانانو په سترګو کې کفار کم ښکاره کړل) وَيُقَلِّلُكُمۡ او تاسو يې کم (ښکاره) کړئ فِيٓ أَعۡيُنِهِمۡ د هغوی(يعنې د کفارو) په سترګو کې(يعنې مؤمنانو ته کفار کم ښکاره کيدل،او کفارو ته مؤمنان کم ښکاره کيدل،تر څو چې دواړه ډلې زړورې شی،او جنګ وشي،) لِيَقۡضِيَ د دې دپاره چې فيصله وکړي ٱللَّهُ الله تعالی أَمۡرٗا د هغه کار كَانَ مَفۡعُولٗاۗ چې کيدونکئ و(يعنې چې د مسلمانانو په لاس د مکې مشرکانو او کفارو ته عذاب ورکړي) وَإِلَى ٱللَّهِ او خاص الله تعالی ته تُرۡجَعُ ورګرځول کيږي ٱلۡأُمُورُ ټول کارونه. ﴿٤٤﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٤٥﴾

اوس مؤمنانو ته د جهاد په باره کې نصيحت کيږي!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو خلکو ءَامَنُوٓاْ چې ايمان مو راوړئ دی إِذَا کله چې لَقِيتُمۡ مخامخ کيږئ تاسو فِئَةٗ د يوې ډلې(د کفارو سره په جنګ کې) فَٱثۡبُتُواْ نو ثابت قدمه اوسئ تاسو وَٱذۡكُرُواْ او يادوئ تاسو ٱللَّهَ الله تعالی كَثِيرٗا زيات لَّعَلَّكُمۡ د دې دپاره تُفۡلِحُونَ چې کامياب شئ تاسو. ﴿٤٥﴾

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٤٦﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴿٤٧﴾

وَأَطِيعُواْ او اطاعت کوئ تاسو ٱللَّهَ د الله تعالی وَرَسُولَهُۥ او د رسول د هغه«جل جلاله» وَلَا تَنَٰزَعُواْ او جګړې(او اختلاف) مه کوئ(په خپل منځ کې،او که چيرته په خپلو منځونو کې جګړي او اختلافات وکړئ) فَتَفۡشَلُواْ نو بي زړه(او کمزوري) به شئ تاسو وَتَذۡهَبَ او لاړ به شي رِيحُكُمۡۖ قوت(او دبدبه) ستاسو(او د کفارو سترګې به درڅخه بيا نه سوزي.) وَٱصۡبِرُوٓاْۚ او صبر کوئ إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ د صبر کوونکو سره(ملګری) دی. ﴿٤٦﴾

وَلَا تَكُونُواْ او(ای مؤمنانو)تاسو مه کيږئ كَٱلَّذِينَ په شان د هغو خلکو(يعني د مکې د قريشو په شان) چې هغوی ووتل خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم د خپلو کورونو څخه(د مسلمانانو سره د جنګ په نيت) بَطَرٗا په(ډير) غرور(او تکبر سره چې ګني زمونږ خو دومره قوی او مجهز لښکر دی،چې نن ورځ په عربو کې هيڅوک زمونږ د مقابلې نشته،او ځای په ځای به يې ډولونه،ګډاګاني او شراب خوری کولې) وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ او خلکو ته په ريا (او ځان ښودلو سره،يعني نورو عربې قبايلو ته يې ځانونه ښودل،چې ګني مونږ خو د انسانيت بيرغ په لاس د کعبې د عزت او تاريخي روايتونو د ساتلو دپاره جنګ کوو،ځکه چې دوی ځانونه د ابراهيم عليه السلام په ملت ګڼل) وَ حال دا چې(دوی دروغجن دي،حقيقت دا دی) يَصُدُّونَ چې هغوی منع کوي(خلک) عَن سَبِيلِ د لارې ٱللَّهِۚ د الله تعالی څخه(يعني د توحيد او د کعبې د رب د عبادت څخه خلک منع کوي) وَٱللَّهُ او الله تعالی بِمَا په هغو(اعمالو) يَعۡمَلُونَ چې هغوی يې کوي مُحِيطٞ احاطه کوونکئ دی. ﴿٤٧﴾

وَإِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَإِنِّي جَارٞ لَّكُمۡۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ ٱلۡفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكُمۡ إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَۚ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٤٨﴾

.

وَإِذۡ او(ياد كړه هغه وخت)كله چې زَيَّنَ ښايسته ښكاره كړل لَهُمُ هغوى ته(يعني قريشو ته) ٱلشَّيۡطَٰنُ شيطان أَعۡمَٰلَهُمۡ عملونه د هغوى(يعني چې تاسو خو د عربو سرداران ياستئ،تاسو خو د ابراهيم عليه السلام په ملت ځانونه ګڼئ،تاسو خو د خپلې سردارى،دكعبې د عزت او ملت څخه دفاع كوئ،تاسو خو د داسې خلكو د منځه وړلو پسې ځئ چې د خپلو پلرونو او نيكونو د دين څخه اوښتې دي) وَقَالَ او(نور يې ورته)وويلې لَا غَالِبَ چې نشته هيڅوک غلبه كوونكئ لَكُمُ په تاسو ٱلۡيَوۡمَ نن ورځ مِنَ ٱلنَّاسِ د انسانانو څخه(ځكه چې تاسو خو د عربو سردارى،ملت او د كعبې د عزت څخه د دفاع كولو دپاره راوتلې ياستئ) وَإِنِّي او بېشكه زه هم جَارٞ ملګرى يم لَّكُمۡۖ ستاسو فَلَمَّا خو كله چې تَرَآءَتِ مخامخ شوې(په بدر كې) ٱلۡفِئَتَانِ دواړه ډلې(يعني چې د مؤمنانو او مشركانو لښكرې سره په بدر كې مخامخ شوې،نو) نَكَصَ وګرځېدو هغه(يعني شيطان) عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ په خپلو پوندو باندې وَقَالَ او(قريشو ته يې) وويل إِنِّي بېشكه زه بَرِيٓءٞ بېزاره يم مِّنكُمۡ د ستاسو څخه إِنِّيٓ أَرَىٰ بېشكه زه ګورمه مَا هغه څه لَا تَرَوۡنَ چې تاسو يې نه ګورئ إِنِّيٓ بېشكه زه أَخَافُ ٱللَّهَۚ د الله تعالى څخه ويرېږم وَٱللَّهُ او الله تعالى شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ډېر سخت عذاب وركوونكئ دى. ﴿٤٨﴾

إِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمۡۗ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٤٩﴾

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴿٥٠﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٍ لِّلۡعَبِيدِ ﴿٥١﴾

إِذۡ (ياد کړه هغه وخت) کله چې يَقُولُ ويلې ٱلۡمُنَٰفِقُونَ منافقانو وَٱلَّذِينَ او هغو خلکو فِي قُلُوبِهِم چې د هغوی په زړونو کې مَّرَضٌ (د شک او کفر) مرض و غَرَّ چې دوکه کړې دي هَٰٓؤُلَآءِ دا (مسلمانان) دِينُهُمۡۗ دين د دوی(يعنې کله چې مسلمانان بدر ته د مشرکانو سره جنګ کولو ته روان وو،نو منافقانو او کفارو ويلې چه دوی ته ګوره،د دوی ښخه خو دين ليونيان جوړکړې دي، مرګ په سترګو ګورې او ورروان،يعنې نه د جنګ پوره وسله لرې،او نه پوره کسان،او د قريشو د ۱۰۰۰ کسانو جنګياليو د مجهز او قوی لښکر مقابلې ته ورځې،الله تعالی جواب ورکړو) وَمَن او هر څوک يَتَوَكَّلۡ چې توکل کوې عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې فَإِنَّ نو بېشکه ٱللَّهَ الله تعالی عَزِيزٌ ډېر زورور حَكِيمٞ حکيم دی ﴿٤٩﴾

وَلَوۡ او کاشکې تَرَىٰٓ چې تا ليدلای شو إِذۡ هغه وخت چې يَتَوَفَّى ساګانې قبض کوې ٱلَّذِينَ د هغو خلکو كَفَرُواْ چې هغوی کفر کړئ دی ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ (د الله تعالی) فريښتې يَضۡرِبُونَ هغوی(يعنې فريښتې) وهې وُجُوهَهُمۡ په مخونو هغوی(يعنې کفار په مخونو وهې) وَأَدۡبَٰرَهُمۡ او په ملاګانو يې(وهې) وَ او(ورته وايې) ذُوقُواْ چې وڅکئ مزه عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ د سوځوونکې عذاب. ﴿٥٠﴾ (او نور به ورته وايې چې:) ذَٰلِكَ دا(جزا او عذاب) بِمَا په سبب د هغو(اعمالو درکول کيږي) قَدَّمَتۡ چې مخکې ليږلې دي أَيۡدِيكُمۡ لاسونو ستاسو(يعنې دا د هغو ګناهونو جزا ده چې تاسو د ځانونو ښخه مخکې د دنيا ښخه آخرت ته ليږلې دي،او اوس يې جزا درکول کيږي) وَأَنَّ ٱللَّهَ او بېشکه چې الله تعالی لَيۡسَ نه

دی بِظَلَّٰمٍ ظلم کوونکئ لِّلۡعَبِيدِ په بندګانو(يعني الله تعالی په خپلو بندګانو قطعاً ظلم نه کوي بلکې بندګان پخپله په خپلو ځانونو باندې ظلمونه کوي) ﴿٥١﴾

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٥٢﴾

كَدَأۡبِ(او حال د دې کفارو) په شان د حال ءَالِ فِرۡعَوۡنَ د فرعونيانو وَٱلَّذِينَ او د هغو خلکو دی مِن قَبۡلِهِمۡۚ چې د هغوی څخه مخکې وو كَفَرُواْ چې هغوی کفر کړئ وو بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آياتونو باندې فَأَخَذَهُمُ نو ونيول هغوی ٱللَّهُ الله تعالی بِذُنُوبِهِمۡۚ په سبب د ګناهونو د هغوی إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی قَوِيّٞ ډېر طاقتور شَدِيدُ سخت ٱلۡعِقَابِ عذاب ورکوونکئ دی. ﴿٥٢﴾

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرٗا نِّعۡمَةً أَنۡعَمَهَا عَلَىٰ قَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٥٣﴾

ذَٰلِكَ بِأَنَّ دا ځکه چې ٱللَّهَ الله تعالی لَمۡ يَكُ نه دی مُغَيِّرٗا بدلوونکئ نِّعۡمَةً د يو نعمت أَنۡعَمَهَا چې هغه يې ورکړئ وي عَلَىٰ قَوۡمٍ يو قوم ته حَتَّىٰ تر هغې پورې يُغَيِّرُواْ چې هغوی بدل کړي مَا بِأَنفُسِهِمۡ هغه څه چې د دوی په زړونو کې دي(يعني ترڅو چې دوی د توحيد عقيده پرې نه ږدي او د الله تعالی سره شرک ونکړي،نو الله تعالی نه ورڅخه خپل نعمت اخلي،او نه وربانديې عذاب نازلوي.لکه څنګه چې د نوح،هود او د صالح عليهم السلام قومونو چې کله توحيد پرېښودلو او د الله تعالی سره يې شرک شروع کړو،نو الله تعالی ټول ونيول او هلاک يې کړل) وَأَنَّ ٱللَّهَ او بېشکه چې الله تعالی سَمِيعٌ اوريدونکئ(او) عَلِيمٞ پوه دی. ﴿٥٣﴾

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَۚ وَكُلّٞ كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴿٥٤﴾

كَدَأۡبِ (او حال د دې كفارو) په شان د حال ءَالِ فِرۡعَوۡنَ د فرعونيانو وَٱلَّذِينَ او د هغو خلكو دی مِن قَبۡلِهِمۡۚ چې د هغوی څخه مخكې وو كَذَّبُواْ چې هغوی دروغ وګڼل (دروغ يې وويل) بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ په آياتونو د رب خپل فَأَهۡلَكۡنَٰهُم نو مونږ هلاک کړل هغوی بِذُنُوبِهِمۡ په سبب د ګناهونو د هغوی وَأَغۡرَقۡنَآ او غرق کړل مونږ ءَالَ فِرۡعَوۡنَۚ فرعونيان وَكُلّٞ كَانُواْ او هغوی ټول وو ظَٰلِمِينَ ظالمان (په خپلو ځانونو باندې،ځکه چې الله تعالی د زرې په برابر هم په چا ظلم نه کوي،هغوی په خپله د الله تعالی عذاب ته دعوت ورکړو،او ټول هلاک شو.) ﴿٥٤﴾

إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٥﴾

إِنَّ بېشكه شَرَّ بدتر ٱلدَّوَآبِّ د خوځېدونكو(ګرځېدونكو) عِندَ ٱللَّهِ د الله تعالى په وړاندې ٱلَّذِينَ هغه(خلک)دي كَفَرُواْ چې كافران دي فَهُمۡ او هغوی لَا يُؤۡمِنُونَ ايمان نه راوړي(په الله تعالی او نبي عليه السلام) ﴿٥٥﴾

ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهۡدَهُمۡ فِي كُلِّ مَرَّةٖ وَهُمۡ لَا يَتَّقُونَ ﴿٥٦﴾

كله چې نبي عليه السلام د مكې څخه مدينې منورې ته هجرت وكړو،نو د مدينې د يهوديانو سره يې په دې ډول معاهده او تړون وكړو،چې د خارجي حملې په مقابل کې به د مدينې څخه په شريكه دفاع كوو،يهودو په ښكاره ډول دا معاهده ومنله ليكن په پټه به يې د مسلمانانو د دښمنانو سره كومک كولو،هركله به چې كوم مشكل په مسلمانو راغئ نو دوی به په پټه

سره د دښمنانو سره کومک کولو،حتی چې د احزاب په جنګ کې یې د مکې مشرکانو ته پټ خبر ولیږلو چې تاسو د دباندې څخه حمله وکړئ،او مونږ به د دننه څخه حمله وکړو او مسلمانان به بیخي د منځ څخه ویسو.

ٱلَّذِينَ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم»دا) هغه خلک دي عَٰهَدتَّ چې تا معاهده(او تړون) کړئ مِنۡهُمۡ د هغوی سره ثُمَّ (خو وروسته) بیا يَنقُضُونَ ماتوې دوی عَهۡدَهُمۡ عهد(او تړون) خپل فِي كُلِّ مَرَّةٖ په هر کرت(یا په هر وخت)کې(چې په تاسو کوم مشکل راځې،نو دوی په پټه تړون ماتوې او ستاسو د دښمنانو ملاتړ کوي) وَهُمۡ او دوی لَا يَتَّقُونَ (د الله څخه) نه ویریږي. ﴿٥٦﴾

فَإِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِم مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾

لکه چې مخکې ذکر شو،چې سره د دې چې د نبي علیه السلام سره یې معاهده او تړون هم کړئ وو،لیکن بیا به یې هم په پټه سره د مسلمانانو د دښمنانو سره د وسلو مرسته هم کوله،او د هغوی سره به یې د مسلمانانو په ضد په جنګ کې برخه هم اخستله.

فَإِمَّا نو که چیرته تَثۡقَفَنَّهُمۡ پیدا کړئ هغوی فِي ٱلۡحَرۡبِ په جنګ کې فَشَرِّدۡ نو وویروئ بِهِم په هغوی سره مَّنۡ هغه څوک خَلۡفَهُمۡ چې د هغوی شاته دي(یعنې دې عهد ماتوونکو ته داسې جزا ورکړئ،چې د دوی پسې چې وروسته څوک دي،چې د هغوی په زړونو کې هم ویره پیدا شي) لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ تر څو چې هغوی(یعنې وروستنې خلک )عبرت واخلې ﴿٥٧﴾

وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوۡمٍ خِيَانَةٗ فَٱنۢبِذۡ إِلَيۡهِمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٨﴾

وَإِمَّا او ای(محمد«صلی الله علیه وسلم») که چیرته تَخَافَنَّ ویریږي ته
مِن قَوۡمٍ د یو قوم خِيَانَةً د خیانت نه(یعني که تاته داسې نښې څرګندې
شوي وي،چې د مشکل په وخت کې به هغوی عهد او تړون مات کړي،او
ستاسو د دښمن سره به لاس یو کړي،نو بیا خبره پاکه کړه) فَٱنۢبِذۡ نو
وغورځوه(ستاسو تر منځ چې کوم عهد او تړون شوئ دی) إِلَيۡهِمۡ هغوی
ته(یعني معاهده ورسره منسوخ کړه،د دې دپاره چې دواړه طرفه خبر
شئ) عَلَىٰ سَوَآءٍۚ په مساوي(او برابر) ډول(یعني دواړه طرفه باید خبر
وي چې زمونږ تر منځ نور تړون او معاهده نشته،او هر یو د خپل ځان
حفاظت او ساتنه وکړي،هسې نه چې په ناخبرۍ کې یو بل ووهې) إِنَّ
ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی لَا يُحِبُّ نه خوښوي ٱلۡخَآئِنِينَ خیانت
کوونکي(یعني تړون او عهد ماتونکي،اګر که دا عهد د مسلمانانو د خوا
څخه مات شوئ وي،دا هم خیانت دی،او الله تعالی یې نه خوښوي) ﴿٥٨﴾

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ إِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُونَ ﴿٥٩﴾

وَلَا يَحۡسَبَنَّ او ګمان دې نه کوي ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې کافران
دي سَبَقُوٓاْۚ چې خلاص شو(د الله تعالی د عذاب څخه یعني د مسلمانانو
سره یې خیانت وکړو،عهد او تړون یې مات کړو او د مسلمانانو د
دښمنانو سره یې مرسته وکړه،نو دا ګمان دې نه کوي چې ګني د الله تعالی
د عذاب څخه هم بچ شو،بلکې) إِنَّهُمۡ بېشکه دوی لَا يُعۡجِزُونَ نشی
عاجزه کولای(الله تعالی دوی ته د عذاب د ورکولو څخه،یعني د الله تعالی
د عذاب څخه ځانونه نشي بچ کولای.) ﴿٥٩﴾

وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ
وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي

سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴿٦٠﴾ ۞ وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا
وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦١﴾
وَإِن يُرِيدُوٓاْ أَن يَخۡدَعُوكَ فَإِنَّ حَسۡبَكَ ٱللَّهُۚ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ
﴿٦٢﴾

کله چې کفارو د بدر په غزا کې شکست وکړو، ۷۰کسان يې ووژل شو او ۷۰ کسان يې د مسلمانانو سره بنديان شو،نو پاتې کفار چې مکې ته ورسيدل بيا يې د جنګ کولو کوششونه شروع کړل چې د خپلو مړو بدل د مسلمانانو نه واخلي.نو الله تعالی مسلمانانو ته فرمايي:

وَأَعِدُّواْ او تيار(او اماده)کړئ تاسو لَهُم د هغوی(يعني د کفارو سره د جنګ) دپاره مَّا هر څومره ٱسۡتَطَعۡتُم چې کولای شئ تاسو مِّن قُوَّةٍ د نظامي قوت څخه وَمِن او د رِّبَاطِ ساتل شوو(او تربيه شوو جنګي) ٱلۡخَيۡلِ آسونو څخه(يعني هر وخت په خپل ټول قوت سره جنګ ته تيار اوسئ،د دې دپاره) تُرۡهِبُونَ چې تاسو وويروئ بِهِۦ په دې(نظامي طاقت سره) عَدُوَّ دښمنان ٱللَّهِ د الله تعالی وَعَدُوَّ او دښمنان كُمۡ د ستاسو وَءَاخَرِينَ او نور (خلک) مِن دُونِهِمۡ پرته د دوی نه لَا تَعۡلَمُونَهُمُ چې تاسو هغوی نه پيژنئ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ (ليکن) الله تعالی يې پيژني(يعني منافقان، چې تاسو ته معلوم نه دي،مګر الله تعالی ته معلوم دي) وَمَا او هغه څه تُنفِقُواْ چې مصرفوئ تاسو مِن شَيۡءٍ د يو شي څخه فِي سَبِيلِ په لار کې ٱللَّهِ د الله تعالی(د نظامي قوت د تقويه کولو دپاره،نو) يُوَفَّ پور-پوره به درکول کيږي إِلَيۡكُمۡ تاسو ته(بدل او ثواب ستاسو د مصارفو د الله تعالی په لار کې) وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ او په تاسو به ظلم نه کيږي(يعني په حساب،جزا او سزا کې به درسره هيڅ زياتئ او کمئ نه کيږي) ﴿٦٠﴾ ۞

وَإِن او که چیرته(ای پیغمبر«صلی الله علیه وسلم»کفار د مسلمانانو د
نظامي او جنګي قوت څخه متاثير او په ویره کې شي،او) جَنَحُواْ مائل
شي لِلسَّلۡمِ صلحې ته(یعني که کفار د جنګ په ځای د صلحې لار خوښه
کړي،او د صلحې غوښتنه وکړي) فَٱجۡنَحۡ نو ته هم مائل شه لَهَا هغې
ته(یعني ته هم صلحه خوښه کړه،او صلحه وکړه) وَتَوَكَّلۡ او توکل کوه
عَلَى ٱللَّهِۚ په الله تعالی باندې(یعني صلحه ورسره کوه خو نتیجه یې الله
تعالی ته سپاره،ځکه چې:) إِنَّهُۥ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ بېشکه هغه جل جلاله ښه
اوریدونکئ (او)ښه پوه دی(یعني د هغوی پټې مشورې هم الله تعالی
اوري،او د هغوې د زړونو په پټو خبرو او ارادو هم ښه پوه دی،چې آیا
دوی په رښتیا صلحه کوي او که چل یې مطلب دی؟) ﴿٦١﴾

وَإِن او که چیرته يُرِيدُوٓاْ هغوی غواړي(که چیرې هغوی اراده لرې)
أَن چې(د صلحې په بهانه) يَخۡدَعُوكَ ستا سره ټګي وکړي(تا ته دوکه
او فریب درکړي) فَإِنَّ نو(ته تشویش مه کوه) بېشکه حَسۡبَكَ کافي دی تا
ته ٱللَّهُۚ الله تعالی هُوَ ٱلَّذِيٓ (چې)هغه جل جلاله هغه ذات دی أَيَّدَكَ
چې ملاتړ ئې وکړو ستا بِنَصۡرِهِۦ په خپل کومک سره(یعني په بدر کې
ئې د پریښتو په ذریعه ستا کومک وکړو) وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ او په مؤمنانو
سره(ئې ستا کومک وکړو) ﴿٦٢﴾

وَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡۚ لَوۡ أَنفَقۡتَ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مَّآ أَلَّفۡتَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡ وَلَٰكِنَّ
ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٦٣﴾

او اوس الله تعالی د خپل احسان یادونه په مؤمنانو باندې کوي.

وَأَلَّفَ او هغه «جلاجلاله» محبت(او مینه)واچوله بَيۡنَ په منځ قُلُوبِهِمۡۚ
د زړونو د هغوی کې(یعني د صحابه کرامو رضی الله عنهم په زړونو
کې ئې یو بل ته محبت پیدا کړو،او) لَوۡ که چیرته أَنفَقۡتَ مصرف

کړي و تا مَا هغه(مالونه او دولتونه) فِي ٱلۡأَرۡضِ چې په ځمکه کې دي جَمِيعٗا ټول (یعنې اې پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» که تا د ټولې دنیا مالونه او دولتونه مصرف کړي وو،بیا به هم) مَّآ أَلَّفۡتَ تا نه و اچولئ محبت بَيۡنَ په منځ قُلُوبِهِمۡ د زړونو د هغوی کې(یعنې د صحابه کرامو رضی الله عنهم په زړونو کې به دې یو بل ته محبت نه و اچولئ) وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ لیکن الله تعالی أَلَّفَ مینه(او محبت) واچولو بَيۡنَهُمۡۚ د هغو په منځ کې(یعنې د صحابه کرامو رضی الله عنهم په منځ کې) إِنَّهُۥ بېشکه هغه «جل جلاله» عَزِيزٌ زورور حَكِيمٞ حکمت والا دی ﴿٦٣﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٤﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ای نبي«صلی الله علیه وسلم» حَسۡبُكَ کافي دی تا ته(پوره دی تا ته) ٱللَّهُ الله تعالی وَمَنِ او هغه چا ته ٱتَّبَعَكَ چې تابعدارې کوې ستا مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو څخه. ﴿٦٤﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿٦٥﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ای پیغمبره«صلی الله علیه وسلم» حَرِّضِ وهڅوه ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنان عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ جنګ ته(یعنې مؤمنان د الله تعالی په لار کې د جنګ کولو دپاره داسې تشویق کړه چې د جاهلیت د وخت کمزوري یې ختمه شي،ځکه چې د اسلام څخه د مخه د جاهلیت په وخت کې به عربانو د مالونو د لوټولو او د غلامانو او وینځو د نیولو دپاره جنګونه کول،نو ته د دوی دا کمزوري ختمه کړه،او پوه یې کړه چې د الله تعالی په لار کې د جنګ اصلي مقصد د غلامانو او مالونو نیول نه دي،بلکې اصلي مقصد د الله تعالی رضاء او د آخرت کامیابي ده،او داسې کسان چې

جنګ صرف د الله تعالی د رضاء او د آخرت د کامیابۍ دپاره کوي،نو)
إِن که چیرته يَكُن وي مِّنكُمۡ د ستاسو عِشۡرُونَ شل صَٰبِرُونَ صبر
کوونکي(کسان چي جنګ د دنیا دپاره نه بلکي د الله تعالی د رضاء او د
آخرت د کامیابۍ دپاره کوي) يَغۡلِبُواْ دوی به غالبه کیږي مِاْئَتَيۡنِۚ په
دوه سوه(کسانو د کافرانو یعني د ۲۰۰ کسانو مقابله به کوي) وَإِن او
که چیرته يَكُن وي مِّنكُم د ستاسو(داسې مخلص) مِّاْئَةٞ سل کسان
يَغۡلِبُوٓاْ دوی به غالبه کیږي أَلۡفٗا په زرو کسانو(یعني د زر کسانو مقابله
کوي) مِّنَ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو كَفَرُواْ چي هغوی کافران دي بِأَنَّهُمۡ
ځکه چي هغوی قَوۡمٞ داسې خلک دي لَّا يَفۡقَهُونَ چې نه
پوهیږي.(یعني ړانده او کاڼه پرته د کوم مقصد څخه د بل په حکم د دنیا
او پیسو دپاره جنګ کوي) ﴿٦٥﴾

(یعني څوک چي د ایماني قوت په اساس د الله تعالی د رضاء،د جنت او
شهادت د لوړ مقام د حاصلولو دپاره جنګیږي،په جنګ کې د داسې خلکو
ثابت قدیمي او د قربانۍ جذبه د هغو خلکو په نسبت ډیره زیاته وي: چې د
قام پرستی،رواجونو،پیسو او د چا د حکم دپاره جنګیږي،چې په بدر کې
دا نسبت د صحابه کرامو رضی الله عنهم(یعني د سابقون الاولون) دپاره
یو پر لس و، یعني سل صحابه کرام رضی الله عنهم د زر کسانو کفارو په
مقابل کې و،مګر د بدر د جنګ څخه وروسته چون ډیر خلک په اسلام
کې داخل شول،او ورځ په ورځ نوې مسلمانان زیاتیدل،نو د مسلمانانو
تعداد خو زیات شو لیکن د نوو مسلمانانو تربیت په اسلام کې لکه د
پخوانیو صحابه کرامو یا د سابقون الاولون په شان نه وو،نو په دې سبب
د مسلمانانو صفونه د پخوا په نسبت یو څه کمزورې شو،او دا نسبت یو
پر دوه شو،یعني سل مسلمانان باید د دوه سوو کفارو مقابله وکړي). الله
تعالی فرمایي:

ٱلۡـَٔـٰنَ اوس خَفَّفَ آساني راوستله ٱللَّهُ الله تعالى عَنكُمۡ په تاسو وَعَلِمَ
او هغه«جلاجلاله»پوهيږي أَنَّ چې ببشكه فِيكُمۡ په تاسو كې ضَعۡفٗاۚ
كمزوري ده فَإِن نو كه چيرته(اوس) يَكُن وي مِّنكُم د ستاسو
مِّاْئَةٞ سل كسان صَابِرَةٞ صبر كوونكې(ثابت قدمه) يَغۡلِبُواْ غالبه كيږي
به دوى(كاميابيږي به دوى،) مِاْئَتَيۡنِۚ په دوه سوو كسانو وَإِن او كه
چيرته يَكُن وي مِّنكُمۡ د ستاسو أَلۡفٞ زر كسان يَغۡلِبُوٓاْ غالبه كيږي
به دوى(كاميابيږي به دوى) أَلۡفَيۡنِ په دوه زره كسانو(د كافرانو) بِإِذۡنِ
په حكم باندې ٱللَّهِۗ د الله تعالى(يعني د بدر په غزا كې پخواني صحابه
كرام رضى الله عنهم يعني سابقون الاولون يو كس په لسو كفارو حساب
وو،او د بدر د غزا څخه وروسته يو كس په دوه كفارو حساب وو،ليكن دا
خبره بايد واضحه شي چې: نعوذبالله په دې فرق كې د وروستنيو صحابه
كرامو د شان كموالئ او توهين نه دى شوئ،ځكه چې:په دې كې د هغوى
رضى الله عنهم بدې نه ده بيان شوي،بلكې د دې څخه د هغوى رضى الله
عنهم د درجو فرق معلوميږي«احسن الكلام») وَٱللَّهُ او الله تعالى مَعَ
ٱلصَّٰبِرِينَ د صبر كوونكو سره(ملګرى) دى. ﴿٦٦﴾

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسۡرَىٰ حَتَّىٰ يُثۡخِنَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ تُرِيدُونَ عَرَضَ
ٱلدُّنۡيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٦٧﴾

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ د نبي دپاره لازم نه دي أَن يَكُونَ لَهُۥٓ چې وي دې د هغه
دپاره أَسۡرَىٰ (جنګي) بنديان حَتَّىٰ د هغې پورې يُثۡخِنَ چې پوره
غلبه(او كنټرول)وكړي فِي ٱلۡأَرۡضِۚ په ځمكه كې(يعني:مجاهدين بايد د
دښمن په قواو باندې د پوره غلبې،او په سيمه كې د پوره حاكميت او
كنټرول د ټينګښت څخه مخكې جنګې قيديان و نه نيسې،ځكه كه چيرته د

دښمن قوت په پوره ډول د منځه نه وي تللئ،کيداى شي چې مجاهدين د جنګې بنديانو په نيولو او د غنيمت د مالونو په ټولولو باندې مصروف شي،او دښمن د بلې خوا څخه حمله وکړي،لکه چې د احد په غزا کې همداسې وشول.) تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا تاسو د دنيا ګټه غواړئ(يعني غواړئ چې ډېر جنګې بنديان ونيسئ او ډېره فديه واخلئ،ليکن) وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ الله تعالى آخرت خوښوي(تاسو ته) وَٱللَّهُ او الله تعالى عَزِيزٌ ډېر زورور حَكِيمٌ حکمت والا دى ﴿٦٧﴾

لَّوۡلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمۡ فِيمَآ أَخَذۡتُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٦٨﴾

لَّوۡلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ که چيرته پخوانى الهي فيصله موجود نه وه(چې:د جنګې بنديانو سره يا احسان کول دي او يا فديه کول دي،يعنې يا د احسان په طريقه ازادول دي،او يا د فديې يا مال په مقابل کې ازادول دي«سورة محمد ۴ آيت-بيان القرآن» نو) لَمَسَّكُمۡ خامخا به رسيدلئ و(خامخا به درکول شوئ و) تاسو ته فِيمَآ په سبب د هغې(مال) أَخَذۡتُمۡ چې اخستئ دى تاسو(د قيديانو د ازادولو په مقابل کې) عَذَابٌ عَظِيمٌ لوى عذاب(يعني تاسو چې کومه فديه د بنديانو د ازادولو په بدل کې اخستې ده،د دې د جواز حکم د مخکې څخه موجود و،او تاسو کوم ناروا کار نه دى کړئ) ﴿٦٨﴾

فَكُلُواْ مِمَّا غَنِمۡتُمۡ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٦٩﴾

فَكُلُواْ نو خورئ مِمَّا د هغو(مالونو) څخه غَنِمۡتُمۡ چې تاسو غنيمت حاصل کړي دي حَلَٰلٗا حلال(او) طَيِّبٗاۚ پاک(يعنې تاسو ته حلال او پاک دي) وَٱتَّقُواْ او ويريږئ ٱللَّهَۚ د الله تعالى څخه إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالى غَفُورٞ بښوونکئ رَّحِيمٞ (او)رحم کوونکئ دى. ﴿٦٩﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي قُلُوبِكُمۡ خَيۡرٗا يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرٗا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٧٠﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ اى نبي«عليه السلام) قُل ته ووايه لِّمَن هغه چا ته فِيٓ أَيۡدِيكُم چې ستاسو په لاس کې دي مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ د بندیانو نه إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ كه الله تعالى ته معلوم وي فِي قُلُوبِكُمۡ ستاسو په زړونو کې خَيۡرٗا څه خير(يعنې ايمان) يُؤۡتِكُمۡ (نو) هغه «جل جلاله) به درکړي تاسو ته خَيۡرٗا ډېر بهتر مِّمَّآ د هغه (مال) څخه أُخِذَ چې اخستل شوئ دی مِنكُمۡ د ستاسو څخه(په فديه کې) وَيَغۡفِرۡ او هغه«جل جلاله» به بخښنه وکړي لَكُمۡۚ تاسو ته(د تيرو شوو ګناهونو،يعني هغه جنګې قيديان چې د مال د ورکولو په بدل کې ازاد شو،د ايمان راوړلو په صورت کې ورسره دوه وعدې وشوې اول د مال دوهم د بخښنې،واقعاً کومو بنديانو چې د فديې د ورکولو او ازاديدلو څخه وروسته ايمان راوړو،په دنيا کې مالداره هم شو،او انشاءالله چې الله تعالى به بخلې هم وي) وَٱللَّهُ او الله تعالى غَفُورٞ ډېر بخونکئ رَّحِيمٞ (او) رحم کوونکئ دی. ﴿٧٠﴾

وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدۡ خَانُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾

وَإِن او که چيرته يُرِيدُواْ دوی اراده لري خِيَانَتَكَ ستا سره د خيانت کولو(چې د ازادولو څخه وروسته به بيا د اسلام په ځای کفر اختيار کړي،او ستاسو په خلاف به د کفارو سره ملګرې شي) فَقَدۡ نو بېشکه خَانُواْ ٱللَّهَ دوی د الله تعالى سره(هم) خيانت کړئ دی مِن قَبۡلُ د دې څخه مخکې( د شرک په کولو سره) فَأَمۡكَنَ نو الله تعالى طاقت درکړو تا ته مِنۡهُمۡۗ د دوی(د نيولو او جزا ورکولو،او که بيا خيانت وکړي،نو بيا

به هم الله تعالی جزا ورکړي) وَٱللَّهُ او الله تعالی عَلِيمٌ ښه پوه حَكِيمٌ (او) حکيم دی. ﴿٧١﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٧٢﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ بېشکه هغه خلک ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړی دی وَهَاجَرُواْ او هجرت يې کړی دی وَجَٰهَدُواْ او جهاد يې کړی دی بِأَمۡوَٰلِهِمۡ په خپلو مالونو باندې وَأَنفُسِهِمۡ او په خپلو ځانونو باندې فِي سَبِيلِ په لار کې ٱللَّهِ د الله تعالی وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَاوَواْ چې ځای يې ورکړی دی(مهاجرينو ته) وَّنَصَرُوٓاْ او مرسته يې کړي ده(د مهاجرينو سره،نو) أُوْلَٰٓئِكَ دغه (خلک) بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يو د بل دوستان دي وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړی دی وَلَمۡ يُهَاجِرُواْ او هجرت يې نه دی کړی مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ نو ستاسو د هغوی سره هيڅ ډول د دوستی اړيکې نشته دي حَتَّىٰ د هغه وخت پورې(چې د دارالکفر څخه دارلاسلام ته) يُهَاجِرُواْۚ هجرت وکړي وَإِنِ او که چيرته (دغه خلک چې ايمان يې راوړی دی خو هجرت يې نه دی کړی) ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ ستاسو څخه کومک وغواړي فِي ٱلدِّينِ په دين کې فَعَلَيۡكُمُ نو لازم دی په تاسو باندې ٱلنَّصۡرُ کومک کول(د هغوی سره په دين کې) إِلَّا مګر عَلَىٰ قَوۡمِۭ د هغه قوم(په خلاف به ورسره کومک نه کوئ) بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم چې ستاسو او د هغوی په منځ کې مِّيثَٰقٞۗ کومه معاهده(او تړون)وي(يعني که مسلمانان په دارالکفر يا د کفر په ملک کې پرته د شرعې عذر څخه اوسيږي، وسه يې کيږي خو هجرت نه کوي

نو،دوستي ورسره مه کوئ،خو که د دین په باره کې درڅخه کومک
وغواړي،یعني د کفارو سره یې جنګ شي،نو په تاسو لازم دي چې
کومک ورسره وکړئ، لیکن د هغو کفارو په خلاف به ورسره کومک نه
کوئ د کومو سره که چیرته ستاسو مهاهده او تړون وي) وَٱللَّهُ او الله
تعالی بِمَا په هغو(اعمالو)باندې تَعۡمَلُونَ چې تاسو یې کوئ بَصِيرٞ
لیدونکئ دی. ﴿٧٢﴾

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ
كَبِيرٞ ﴿٧٣﴾

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک كَفَرُواْ چې کافران دي بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ
دوی یو د بل دوستان دي(او یو د بل سره په کفر کې مرسته کوي) إِلَّا
تَفۡعَلُوهُ مګر که تاسو داسې ونه کړئ (یعنې یو د بل سره په دین کې
مرسته ونه کړئ،نو د دې څخه به) تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې
فتنه جوړه شي(یعنې کفار به غالب او برلاسې شي) وَفَسَادٞ كَبِيرٞ او لوی
فساد به جوړ شي(یعنې شرک به عام شي) ﴿٧٣﴾

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٧٤﴾

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړئ دی وَهَاجَرُواْ او
هجرت یې کړئ دی وَجَٰهَدُواْ او جهاد یې کړئ دی فِي سَبِيلِ په لار
کې ٱللَّهِ د الله تعالی وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَاوَواْ چې ځای یې ورکړئ
دي(مهاجرینو ته) وَّنَصَرُوٓاْ او مرسته یې کړي ده(د مهاجرینو سره)
أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک هُمُ همدوی ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ په حقه مؤمنان
دي(همدوی ریښتیني مؤمنان دي،او) لَّهُم د دوی دپاره مَّغۡفِرَةٞ بخښنه
وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ او ډېر د عزت رزق دی. ﴿٧٤﴾

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ مِنكُمۡۚ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ﴿٧٥﴾

وَٱلَّذِينَ او هغه خلک ءَامَنُواْ چې ایمان يې راوړئ دی مِنۢ بَعۡدُ وروسته (د مديني د هجرت څخه،يعني چې مديني ته د هجرت کولو څخه وروسته مسلمانان شوي دي) وَهَاجَرُواْ او هجرت يې کړئ دی وَجَٰهَدُواْ او جهاد يې کړئ دی مَعَكُمۡ ستاسو سره فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک مِنكُمۡۚ د ستاسو نه دي وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ او نسبي دوستان(يعني د ويني خپلوان،په ميراث وړلو کې) بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ يو د بل زيات حقدار دي فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۚ د الله تعالی په کتاب(قرآنکريم) کې (د دې آيت نه مخکې به خلک د عهد او تړون په واسطه پرته د نسبي خپلوئ څخه هم يو د بل وارثان جوړيدل،او يو به دبل ميراث اخستو،ليکن د دې آيت په نزول سره هغه حکم منسوخ شو،او د ميراث وړل يواځې د مړي نسبي خپلوانو ته پاتې شو) إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی بِكُلِّ شَيۡءٍ په هر شي باندې عَلِيمُۢ پوه دی. ﴿٧٥﴾

////////////////////////////////////////////////////////////////////

# سُورَةُ التَّوْبَةِ

دا مدني سورت دی پرته د ورستنيو دوه آياتونو څخه،(۱۲۹)آياتونه او (۱۶) رکوع لري.

د دې سورت په شروع کې محمد«صلی الله عليه وسلم» په خپله بسم الله نه ده ليکلي،په همدې خاطر صحابه کرامو رضی الله عنهم هم نه ده ليکلي،او وروستني خلک هم د هغوی رضی الله عنهم پيروي کوي،چې دا د دې ثبوت دی چې د قرآنکريم په محفوظ ساتلو کې د دومره زيات احتياط څخه کار اخستل شوئ دی چې: په کوم قسم چې محمد«صلی الله عليه وسلم»امت ته ورکړئ و،اوس هم په هماغي قسم دی(امام رازی رحمت الله عليه)

په دې سورت باندې د ښه پوهيدلو دپاره ضروری معلومات.

د هجرت په شپږم کال د قريشو سره د حديبې د صلحې پواسطه الله تعالی مسلمانانو ته زمينه برابره کړه چې:اسلامې دعوت هرې خوا ته د جزيرة العرب په داخل کې او د نورو ملکونو مشرانو او پادشاهانو ته ورسوي، ډېرو خلکو دعوت قبلولو او د مسلمانانو تعداد او قوت ورځ په ورځ زياتيدلو،د مسلمانانو دا پرمختګ نور د قريشو په زړنو کې ځای نه شو،د حديبې تړون يې مات کړو،او د مسلمانانو د منځه وړلو دپاره يې د يو فيصله کن جنګ په تياري لاس پورې کړو،مګر نبي«صلی الله عليه وسلم» دا موقع ورنکړه،تر څو چې هغوی د حملې دپاره ځانونه برابرول،د هجرت په اتم کال د روژې په مياشت کې نبي عليه السلام په مکه معظمې باندې حمله وکړه،او د الله تعالی په کومک سره مکه د مسلمانانو په لاس فتحه شوه،د مکې معظمې د فتحې نه وروسته د عربو

ځینو قبائلو په خپل ټول زور او طاقت سره د دې اسلامې اصلاحې انقلاب د مخنیوي او منځه وړلو دپاره ډېر لوی لښکر جوړ کړو او د حنین په میدان کې د ډېر خونړي جنګ نه وروسته یې داسې شکست وخوړو چې:نور نو دارالکفر په دارالاسلام بدل شو،او د یو کال څخه په کمه موده کې د عربو ډېره زیاته برخه په اسلام مشرف شول،یوازې یو څه خواره واره قبائل پاتې وو،چې په اسلام کې نه وو داخل شوي،خو دوی هم کله چې ولیدل چې: نبې«صلی الله علیه وسلم» د دیرش زره(۳۰۰۰۰) صحابه کرامو رضی الله عنهم سره د رومیانو سرحد ته د شام خوا ته د قیصر د فوځونو پسې تشرف ویوړو،

او قیصر روم او د هغه عظیم الشان لښکر چې کومه کمزورې د نبې علیه السلام سره د مقابلې او جنګ کولو په مقابل کې وښوده،یعنې د جنګ میدان یې پرېښودلو، نو د رومیانو یا قیصر روم دې پرته د جنګ څخه شکست ټول عرب او خوا او شاه خلک حیران او ګوته په غاښ کړل، ځکه قیصر خو دومره کمزورئ نه وو،د دوه لکه څخه زیات فوځ ورسره وو،نو د دې واقعې په لیدلو سره په ټولو عربو او شاه او خوا سیمو کې د محمد«صلی الله علیه وسلم» او داسلام د دین عظمت خلکو وپیژندلو او د اسلام حقیقت او رعب یې په زړونو کې ځای ونیولو،او نتیجه یې داشوه،چې کله نبي علیه السلام د تبوک څخه بیرته راو ګرځیدلو،نو د عربو د هر طرف څخه به ډلې-ډلې خلک راتلل او په اسلام کې به داخلیدل. (إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ﴿١﴾ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجًا ﴿٢﴾ )

د ښه پوهیدلو دپاره په لنډ دول د تبوک په غزا پوهیدل ضرور دي.

لکه مخکي چې هم اشاره وشوه چې:

د حديبي د صلحې څخه وروسته نبي عليه السلام د عربو مختلفو ځايونو او د مختلفو ملکونو بادشاهانو ته اسلام ته د رابللو دعوت نامې د صحابه کرامو رضی الله عنهم پواسطه ولیږلې،خو هغه قبائل چې د شام دسرحد سره اوسيدل،عيسايان وو،او د قيصر روم تابع وو،نو کله چې دوی ته د نبي عليه السلام دعوت نامې ورورړل شوي،دوی صحابه کرام رضی الله عنهم شهيدان کړل،نو په دې سبب نبي صلی الله عليه وسلم، د ۳۰۰۰ مجاهدينو يو لښکر د شام د سرحد په طرف وليږلو،سره د دې چې لښکر ته په لار کې معلومه شوه چې (شرجيل) د يو لاک(۱۰۰۰۰۰)لښکر سره ستاسو مقابلې ته راروان دی،او قيصر روم د خپل ورور په مشرۍ يو لاک (۱۰۰۰۰۰) لښکر نور هم ورپسې راوليږلو،ليکن د دې سره-سره بيا هم سرفروشه درې زره مجاهدين ورروان وو،نه يې د خطر پروا کوله او نه ويريدل،تر څو چې د موته په مقام کې يې د شرجيل د يولاک(۱۰۰۰۰۰) لښکر سره ټکر او مقابله شوه،داسې خونړۍ جنګ ونښتو چې مثال يې په تاريخ کې نشته دی،ظاهراً خو هر چا فکر کولو چې مجاهدين به بالکل نيست او نابود شي ،ليکن ټول د شرق ميانه او د عربو خلک حيران پاتې شو چې:د درې زره(۳۰۰۰) مجاهدينو او يو لک (۱۰۰۰۰۰) کفارو په مقابله کې بيا هم کفار په مسلمانانو باندې کامياب نشو.

همدا سبب وو چې: د شام سره نږدې نيمه ازاد قبائل،او د عراق سره نيزدې قبائل چې د (کسرَی) د حکم تابع وو،ټول اسلام ته متوجه شو او په زرهاوو خلک مسلمانان شو.د روم د سلطنت يا قيصر روم د عربې لښکر قوماندان(کمانډر) مسلمان شو،او د خپل ايمان داسې زبردست ثبوت ئې ورکړو چې خوا او شاه ټول خلک ئې حيران کړل.

د همدې واقعاتو څخه قيصر روم احساس وکړ،او دا ويره ورته پيدا شوه چې کوم خطر چې کفارو ته په عربو کې پيدا شوئ دی،هغه زما د سلطنت خوا ته راروان دی،نو د موته د غزا د بدل اخستلو او د مسلمانانو د منځه وړلو دپاره يې د شام په سرحد باندې د نظامې او عسکرې قواوو جمع کول د دې مقصد دپاره شروع کړل،چې يو لوی او قوی لښکر برابر کړي ترڅو چې د عربو څخه دا را پيدا شوئ خطر د هميشه دپاره د منځه ويسې،خو نبي عليه السلام هم د حالاتو څخه بي خبره نه وو،کله چې هغه«صلی الله عليه وسلم» خبر شو چې قيصر روم د مسلمانانو سره د جنګ کولو دپاره د شام په سرحد کې نظامې قواوې راجمع کوي،نو په ښکاره يې په جهر سره اعلان وکړو،چې ټول سرفروشه مؤمنان دې تيار شي،شام ته ځو او د قيصر روم د فوځونو سره ټکر او جنګ دی،ديرش زره مؤمنانو د هغه «صلی الله عليه وسلم» اعلان ته لبيک وويلې،جنګ ته تيار شو، او د ديرش زره صحابه کرامو لښکر چې اعلی سر قوماندان يې پخپله نبي عليه السلام و،د شام د سرحد په طرف د قيصر روم د عظيم الشان فوځونو مقابلې ته وروان شو،خو کله چې قيصر روم خبر شو چې د ديرش زرو صحابه کرامو«رضی الله عنهم» لښکر راروان دی،او اعلی سر قوماندان يې هم پخپله پيغمبر«صلی الله عليه وسلم» دی،نو د پغمبر عليه السلام سره ورته مقابله کول پرته د خپل هلاکت څخه بل څه نه ښکاريدل،ځکه چې هغه ته خو د درې زرو صحابه کرامو طاقت او زور د موته په غزا کې معلوم شوئ وو، چې د دوی يو لک فوځ ورباندې کامياب شوئ نه وو،نو اوس د ديرش زرو صحابه کرامو«رضی الله عنهم» په مقابل کې، په داسې حال کې چې اعلی سر قوماندان يې هم پخپله پيغمبر«صلی الله عليه وسلم» دی، دوه لاکه او درې لاکه فوځ بي معنی دی چې يا يې مخې ته ودريږي او يا ورسره مقابله وکړي،نو قيصر

روم پرته د دې ځخه چې میدان پرېږدي او خپل فوځونه د هلاکت ځخه بچ کړي،نوره هیڅ چاره او لاره نه لرله،نو د نبی علیه السلام د ورسیدلو ځخه مخکې د میدان ځخه وتښتیدل، سرحد یې تخلیه کړو،خپل په لکهاوو-لکهاوو فوځونه یې بیرته بوتلل،او په غیرې مستقیم ډول یې د نبي علیه السلام په مقابل کې خپل شکست تسلیم کړو.نبی علیه السلام ۲۰ شل ورځې په تبوک کې ایسار شو،او د مسلمانانو دا د جنګ ځخه پرته فتحه د دې سبب شوه چې هغه واړه-واړه ریاستونه چې د روم د سرحد سره پراته وو،او د قیصر روم د لاس لاندې وو،هغوی د مسلمانانو اطاعت قبول او مسلمانانو ته یې باج ورکول قبول کړل،ځکه دا ځه دومره وړه فتحه نه وه ،ځکه چې ایرانیانو ته د شکست ورکولو ځخه وروسته په عربو او خوا او شا سیمو کې د قیصر روم دومره ډېر زیات رعب او دبدبه وه،چې د نوم ځخه به یې په خلکو هیبت راتلو،نو د هغه په دې ډول د جنګ میدان مسلمانانو ته پرېښودل،په عربو او خوا او شا سیمو کې د اسلام ډېر زیات رعب او دبدبه د خلکو په زړونو کې پیدا کړه،او د اسلام دین د یو حقیقت او طاقت په حیث ومنل شو،هغه عربي قبائل او ریاستونه چې:قیصر روم به د عربانو په خلاف استعمالول،هغوی د مسلمانانو سره ملګرې شو،او په دې ترتیب د اسلامې اقتدار حدود د روم د سرحد پورې ورسیدل،او د هغو خلکو او منافقانو ملاګانې ماتې شوې چې بیا یې د جاهلیت د وخت د شرکي نظام د راوستلو خوبونه لیدل.او د دنیا دپاره دا د توحید مرکز الله تعالی د مشرکانو او کفارو ځخه د همیشه دپاره پاک کړو.اوس آیاتونو ته توجه وکړئ!

بَرَآءَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١﴾

په دی آیاتونو د بنه پوهیدلو دپاره ضروری معلومات.

په نهمه هجري سنه کې نبی علیه السلام ابوبکر صدیق رضي الله عنه د حج امیر مقرر کړو،کله چې هغه رضی الله عنه مکې ته لاړو دا آیاتونه نازل شو،نو نبي علیه السلام علي رضی الله عنه د دې کار دپاره ولیږلو،او ورته یې وفرمایل چې حاجیانو ته د دې آیتونو د اورولو نه وروسته د دې څلورو خبرو اعلان هم وکړه (۱)جنت ته به صرف مسلمانان داخلیږي (۲) د سږ کال نه به وروسته هیڅ مشرک حج ته نه راځي (۳) د بیت الله څخه به څوک لوڅ طواف نه کوي (۴) د چا سره چې د نبي علیه السلام د طرفه د څلورو میاشتو څخه زیات تړون شوئ وي او د څلورو میاشتو څخه یې زیاته موده پاتې وي،د دوی دپاره به هغه وعده پوره کیږي،خو په دې شرط چې کوم خیانت یې نه وي کړئ.او د چا سره چې څلور میاشتي یا د څلور میاشتو څخه کم او یا هیڅ تړون نه وي شوئ،نو د دوی دپاره صرف څلور میاشتي وخت دی،په دې څلور میاشتو کې دوی ته اختیار دی هرې خوا ته دي ګرځي،د اسلام په باره کې دې ښه فکر او غور وکړي،یا دې جنګ ته تیار شي،یا دې ملک پریږدي،او یا دې اسلام قبول کړي،ځکه چې دا د ټولې دنیا دپاره د توحید مرکز باید د کفر او شرک څخه پاک شي.

بَرَآءَةٌ (دا اعلان دی) د لغوه کولو(د هغو وعدو او تړونونو) مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالی وَرَسُولِهِۦٓ او د هغه«جل جلاله» د پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» د طرف څخه إِلَى ٱلَّذِينَ هغه خلکو ته عَٰهَدتُّم چې تاسو وعدې(او تړون)کړئ دی(د هغوی سره،ای مؤمنانو) مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ د مشرکانو څیني. ﴿۱﴾

فَسِيحُواْ نو تاسو ګرځئ فِي ٱلْأَرْضِ په ځمکه کې(د جزیرة العرب) أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ څلور میاشتې(یعني وروسته د دې اعلان څخه ستاسو سره

نور ترون او معاهده نه کيږي،او تاسو ته څلور مياشتې مهلت او اختيار
درکول کيږي،چې په ښه غور او فکر سره فيصله وکړئ،يا به په اسلام
کې داخليږئ،يا به جنګ ته تياريږئ،او يا به د دنيا دپاره دا د توحيد مرکز
پريږدئ او د ملک څخه به وځئ،خو که چيرته اسلام قبول نه کړئ او
جنګ يا د وطن پريښودل خوښ کړئ،نو) وَٱعۡلَمُوٓاْ پوه شئ أَنَّكُمۡ چې
بېشکه تاسو غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِ د الله تعالى عاجزوونکې نه ياستئ(يعني نه
د الله په دين غالبه کيدلای شئ،او نه د الله تعالى د عذاب څخه ځان
خلاصولای شئ،ليکن) وَأَنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالى مُخۡزِي رسوا
کوونکئ(او شرموونکئ) دی ٱلۡكَٰفِرِينَ د کافرانو. ﴿٢﴾

وَأَذَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوۡمَ ٱلۡحَجِّ ٱلۡأَكۡبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٞ مِّنَ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ وَرَسُولُهُۥۚ فَإِن تُبۡتُمۡ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ
مُعۡجِزِي ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣﴾

وَأَذَٰنٞ او اعلان دی مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى وَرَسُولِهِۦٓ او د هغه«جل
جلاله» د رسول«صلى الله عليه وسلم» د طرف څخه إِلَى ٱلنَّاسِ خلکو
ته يَوۡمَ ٱلۡحَجِّ ٱلۡأَكۡبَرِ د حج اکبر په ورځ أَنَّ ٱللَّهَ چې بېشکه الله تعالى
بَرِيٓءٞ بيزاره دی مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشرکانو څخه وَرَسُولُهُۥۚ او د
هغه«جل جلاله» پيغمبر«صلى الله عليه و سلم»(هم بيزاره دی د مشرکانو
څخه،بايد ذکر شي چې حج اکبر د اختر ورځ ته وايې،او حج اصغر
عمرې ته وايې،او دا خبره چې خلک کوي چې عرفه د جمعې په ورځ
راشي دې ته حج اکبر وايې نو دا خبره په قرآن او حديثو کې نشته
دی.حديث شريف دی چې:د حج اکبر ورځ د قربانۍ ورځ يا د اختر ورځ
ده،يعني علي رضى الله عنه دا اعلانونه د اختر په ورځ وکړل.) فَإِن او
که چيرته تُبۡتُمۡ تاسو توبه وباسئ (د شرک څخه) فَهُوَ نو دا(توبه

ويستل) خَيۡرٞ ډېر بهتر دي لَّكُمۡۖ تاسو ته وَإِن او كه چيرته تَوَلَّيۡتُمۡ
مخ واړوئ تاسو (د توبې ويستلو او ايمان راوړلو څخه) فَٱعۡلَمُوٓاْ نو پوه
شئ أَنَّكُمۡ چې بېشكه تاسو غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِۗ د الله تعالى عاجزه
كوونكي نه ياستئ(نه د الله تعالى په دين غالبه كيدلاى شئ،او نه د الله
تعالى د نيولو څخه ځان خلاصولاى شئ) وَبَشِّرِ او زيرى وركړه ٱلَّذِينَ
هغو (خلكو) ته كَفَرُواْ چې كفر يې كړئ دى بِعَذَابٍ أَلِيمٍ په درد ناك
عذاب باندې ﴿٣﴾

إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ عَلَيۡكُمۡ أَحَدٗا
فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٤﴾

إِلَّا ٱلَّذِينَ مګر هغه(خلک) عَٰهَدتُّم چې تاسو ترون كړئ دى(د هغوى
سره) مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشركانو ځينې ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا (او)بيا
وروسته هغوى څه كمى(او وعده خلافي) نه ده كړي(ستاسو سره په ترون
كې) وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ او نه يې كومک كړئ دى عَلَيۡكُمۡ ستاسو په خلاف
باندې أَحَدٗا د هيڅ چا سره(كه چيرته د داسې خلكو سره د څلور مياشتو
څخه د ترون زياته موده پاتې وي) فَأَتِمُّوٓاْ نو پوره كړئ إِلَيۡهِمۡ د دوى
سره عَهۡدَهُمۡ ترون د هغوى(چې ستاسو سره يې كړئ دى،او تاسو
ورسره منلئ دى) إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ د هغوى د مودې پورې( كومه موده چې
هغوى ستاسو سره ټاكلې ده،او تاسو ورسره منلې ده.) إِنَّ ٱللَّهَ بېشكه الله
تعالى يُحِبُّ خوښوي ٱلۡمُتَّقِينَ ځان ساتونكې ( د بد عهدى او وعده
خلافى څخه) ﴿٤﴾

فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ
وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ
فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥﴾

فَإِذَا نو كله چې ٱنسَلَخَ تيرې شي ٱلۡأَشۡهُرُ دغه مياشتې ٱلۡحُرُمُ محترمې(يعنې كه دا د مهلت وركولو څلور مياشتې تيرې شي،نور نو په جزيرة العرب كې د مشركانو دپاره آمن نشته دى) فَٱقۡتُلُواْ نو وژنئ تاسو ٱلۡمُشۡرِكِينَ مشركان حَيۡثُ هر چيرته وَجَدتُّمُوهُمۡ چې تاسو هغوى پيدا كوئ وَخُذُوهُمۡ او ونيسئ هغوى(يعنې كه غواړئ بنديان يې كړئ) وَٱحۡصُرُوهُمۡ او محاصره كړئ هغوى وَٱقۡعُدُواْ او كينئ تاسو لَهُمۡ هغوى ته كُلَّ مَرۡصَدٖۚ په هر كمين كې(يعنې هر ځاى كې ورته كمينونه ونيسئ) فَإِن خو كه چيرته تَابُواْ دوى توبه وباسې(د شرک څخه او ايمان راوړې) وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ او لمونځ كوي وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ او زكات وركوي فَخَلُّواْ نو پريږدئ سَبِيلَهُمۡۚ لار د دوى(يعنې خوشې يې كړئ،نور نو ستاسو وروڼه دي.) إِنَّ ٱللَّهَ بېشكه الله تعالى غَفُورٞ رَّحِيمٞ ښه بخښوونكئ (او) ډېر مهربان دى(ان شاءالله چې رحم به وربانديې وكړي او وبه يې بخښي) ﴿٥﴾

وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡلَمُونَ ﴿٦﴾

وَإِنۡ او كه چيرته أَحَدٞ يو كس مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشركانو ٱسۡتَجَارَكَ پناه وغواړي ستا څخه فَأَجِرۡهُ نو هغه ته پناه وركړه حَتَّىٰ تر څو يَسۡمَعَ چې واورې هغه كَلَٰمَ ٱللَّهِ كلام د الله تعالى(قرآنكريم،يعنې په جزيرة العرب كې ډېر داسې خلک شته چې هغوى تر اوسه پورې د رسول الله«صلى الله عليه وسلم»دعوت په غور سره نه دى اوريدلئ،كيداى شي چې د دومره لوى اعلان په اوريدلو سره دوى په غور كولو مجبور شي چې په دې دعوت باندې خو پوهيدل ضرور دي،نو په دې سبب حكم كيږي،چې كه څوک ستاسو څخه پناه وغواړي،نه يوازې دا

چې پناه ورکړئ بلکې د قرآنکریم د اوریدلو موقع ورته هم برابره کړئ.)
ثُمَّ وروسته(د اوریدلو د قرآنکریم څخه) أَبۡلِغۡهُ ورسوئ هغه مَأۡمَنَهُۥۚ
ځای د امن د هغه(یعني کور) ته(یعني سمدستي یې په فیصله کولو مه
مجبوروئ چې ایمان راوړي او کنه؟یا ایمان راوړه یا دې وژنو،بلکې د
قرآنکریم د اوریدلو نه وروسته هغه ته د پوهیدلو او فکر کولو مهلت
ورکړئ،او کور ته یې په محفوظ ډول د رسولو انتظام وکړئ) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ
دا کار په دې سبب (وکړئ) چې دوی قَوۡمٞ داسې خلک دي لَّا يَعۡلَمُونَ
چې نه پوهیږي(یعني دا خلک لا تر اوسه په غفلت کې پراته دي،دوی لا
تر اوسه پورې سم فکر او غور نه دی کړئ چې دا دعوت د څه دپاره
دی؟ ﴿٦﴾

كَيۡفَ يَكُونُ لِلۡمُشۡرِكِينَ عَهۡدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمۡ عِندَ
ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ فَمَا ٱسۡتَقَٰمُواْ لَكُمۡ فَٱسۡتَقِيمُواْ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٧﴾

د حدیبې د صلحې د تړون نه څه وخت وروسته د صلحې تړون پخپله د
قریشو د یوې قبیلې د خوانه مات شو،حمله یې وکړه،او قریشو یې مرسته
وکړه،خو کله چې قریشو ته د خپلې غلطۍ احساس وشو،نو د دوی سردار
ابوسفیان مدینې منورې ته لاړو چې د نبي علیه السلام سره دوباره صلحه
تجدید کړي،لیکن نبي علیه السلام ورسره دوباره صلحه تجدید نکړه.

كَيۡفَ يَكُونُ څنګه کیدلای شي لِلۡمُشۡرِكِينَ د(عهد ماتونکو) مشرکانو سره
عَهۡدٌ تړون(د صلحې) عِندَ ٱللَّهِ د الله تعالی په وړاندې وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ
او د هغه د رسول«صلی الله علیه وسلم» په وړاندې(دا استفهام انکاري
دی،یعنې نشي کیدلای) إِلَّا ٱلَّذِينَ پرته د هغو(مشرکانو څخه) عَٰهَدتُّمۡ
چې تاسو تړون کړئ دی(د هغوی سره په حدیبه کې،ای مؤمنانو) عِندَ
ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ د مسجد حرم سره(د بیت الله څخه هر طرف د ۴۸ میلو

پورې د حرم ساحه حسابیږي،نو کوم ترونونه چې په دې ساحه کې کیږي، عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ یا د مسجد حرم سره، ورته ویل کیږي،په دې خاطر چې حدیبه د بیت الله په ۱۵ میلو کې واقع ده ځکه ورته د مسجد حرم سره، ویل شوئ دی) فَمَا نو تر څو پورې ٱسۡتَقَٰمُواْ لَكُمۡ چې مشرکان کلک ولاړ وي ستاسو سره(په ترون او عهد باندې) فَٱسۡتَقِيمُواْ لَهُمۡۚ نو تاسو(هم) کلک ولاړ اوسئ د هغوی سره(په عهد او ترون سره) إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی يُحِبُّ خوښوي ٱلۡمُتَّقِينَ ځان ساتونکې(د وعده خلافۍ او ترون ماتولو څخه) ﴿٧﴾

كَيۡفَ وَإِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ لَا يَرۡقُبُواْ فِيكُمۡ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَتَأۡبَىٰ قُلُوبُهُمۡ وَأَكۡثَرُهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨﴾

كَيۡفَ څنګه به(د داسې وعده خلافو مشرکانو سره تاسو ترون وکړئ) وَإِن په داسې حال کې که چیرته(دوی په ځان کې زور وګورې) يَظۡهَرُواْ چې دوی غالبه کیږي(چې دوی کامیابیږي) عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې(بیا نو دربانډې حمله کوي،او) لَا يَرۡقُبُواْ لحاظ(او خاطر)به نه کوي فِيكُمۡ په تاسو کې إِلّٗا د خپلوی(او دوستی د ستاسو سره) وَلَا ذِمَّةٗۚ او نه د ترون (او معاهدې ستاسو سره،او څومره یې چې وسه کیږي،تکلیف در رسوې،لیکن د ترون او معاهدې د کولو په وخت کې چې احتیاج او کمزوره وي) يُرۡضُونَكُم راضي کوي تاسو بِأَفۡوَٰهِهِمۡ تش د خپلو خولو په خبرو(چې ستاسو سره به د صلحې په ترون کلک ولاړ یو.....و غیره وغیره) وَ حال دا چې تَأۡبَىٰ انکار کوی قُلُوبُهُمۡ زړونه د دوی(یعنې په زړونو کې صلحه نه منې،موقع ته ګورې،چې کله یې وسه وشي،حمله دربانډې کوي،بیا نه ترون ته ګورې او نه ستاسو سره دوستی

ته ګورئ) وَأَكۡثَرُهُمۡ او اکثره د دوی فَٰسِقُونَ فاسقان(او وعده ماتونکي)دي(يعني ټول وعده ماتونکي نه دي) ﴿٨﴾

ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٩﴾

ٱشۡتَرَوۡاْ اخستئ دی، دي(مشرکانو) بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی د آياتونو په بدل کي ثَمَنٗا قيمت قَلِيلٗا ډېر کم(ځکه چي د الله تعالی د آياتونو په مقابل کي ټوله دنيا هم بي قيمته ده، مشرکان لکه ابوجهل و غيره ښه پوهيدل چي قرآن د الله تعالی حق کتاب دی،خو د دنيا عزت،شهرت او دولت يي غوره کړل، او د قرآن څخه يي انکار وکړو) فَصَدُّواْ نو منع يي کړل (خلک او خپل ځانونه) عَن سَبِيلِهِۦٓۚ د هغه(جل جلاله) د لاري څخه إِنَّهُمۡ بېشکه دغه(مشرکان چي دي) سَآءَ ډېر بد دي مَا هغه(اعمال) كَانُواْ يَعۡمَلُونَ چي دوی به کول. ﴿٩﴾

لَا يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ ﴿١٠﴾

لَا يَرۡقُبُونَ دوی(يعني عهد ماتوونکي مشرکان) لحاظ(او خاطر) نه کوي فِي مُؤۡمِنٍ د هيڅ مؤمن په باره کي إِلّٗا د خپلوۍ وَلَا ذِمَّةٗۚ او نه د کوم تړون (يعني د الله تعالی او د نبي عليه السلام سره د دښمنۍ په سبب د هر مسلمان په باره کي نه د دوستۍ او خپلوۍ خيال ساتي او نه د کوم عهد او تړون څه خيال ساتي) وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه(تړون ماتوونکي مشرکان) هُمُ همدوی ٱلۡمُعۡتَدُونَ (د حد څخه) تيرېدونکي دي ﴿١٠﴾

فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ وَنُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿١١﴾

لیکن د دی سره-سره بيا هم د توبي دروازه ورته خلاصه ده!

فَإِن نو كه چيرته تَابُواْ دوى توبه وباسي(د شرک څخه او ايمان راوړي) وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ او لمونځ كوي وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ او زكات وركوي فَإِخۡوَٰنُكُمۡ نو بيا ستاسو وروڼه دي فِي ٱلدِّينِۗ په دين كې(يعني ستاسو ديني وروڼه دي) وَنُفَصِّلُ او په تفصيل سره بيانوو مونږ ٱلۡأٓيَٰتِ آياتونه لِقَوۡمٖ هغو خلكو ته يَعۡلَمُونَ چې هغوى پوهيږي. ﴿١١﴾

وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ ﴿١٢﴾

وَإِن او كه چيرته نَّكَثُوٓاْ مات كړي هغوى أَيۡمَٰنَهُم خپل قسمونه مِّنۢ بَعۡدِ وروسته د عَهۡدِهِمۡ تړون د هغوى(د ستاسو سره) وَطَعَنُواْ او عيبونه راوباسي فِي دِينِكُمۡ ستاسو په دين كې فَقَٰتِلُوٓاْ نو جنګ وكړئ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ د كفر د پيشوايانو سره (دا د كفر او شرک امامان او پيشوايان قريش وو چې:د كعبې متوليان او د ټولو قبائلو د بتانو مجاوران وو،او د الله تعالى د كور څخه يې د شرک اډه جوړه كړي وه،په دې خاطر ترڅو چې قريشو ته شكست نه وو وركول شوئ،او مكه معظمه د شرک څخه نه وه پاكه شوي،نو په جزيرة العرب كې د دين د غالبه كيدلو تصور نه شو كيدلاى) إِنَّهُمۡ بېشكه هغوى(چې دي) لَآ أَيۡمَٰنَ نشته(اعتبار) قسمونو لَهُمۡ د هغوى ته(څكه چې هر وخت يې وسه وشي،او ځان كې زور وګورې قسمونه ماتوي،نو د مشركانو د مشرانو يعني قريشو سره جنګ وكړئ،چې دوى ته په شكست وركولو سره) لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ بنايې چې هغوى(يعني د جزيرة العرب نور مشركان) منع شي(د شرک او كفر څخه) ﴿١٢﴾

أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمٗا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ وَهَمُّواْ بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۚ أَتَخۡشَوۡنَهُمۡۚ فَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٣﴾

نو اى مؤمنانو!

أَلَا تُقَٰتِلُونَ آيا تاسو جنګ نه کوئ؟ قَوۡمًا د داسې خلکو سره نَّكَثُوٓاْ
چې مات کړي دي هغوى أَيۡمَٰنَهُمۡ قسمونه(او ترونونه) خپل (ستاسو
سره) وَهَمُّواْ او قصد يې کړئ وو بِإِخۡرَاجِ د ويستلو ٱلرَّسُولِ د
پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» (د مکې معظمې څخه) وَهُم او همدوى
بَدَءُوكُمۡ شروع(د دښمنى او جنګ) کړي ده ستاسو سره أَوَّلَ اول مَرَّةٍۚ
ځل (يعنې همدوى وو چې:په مسلمانانو يې ظلمونه کړي او د مکې
معظمې څخه يې په هجرت کولو مجبور کړل،همدوى وو،چې په بدر کې
يې حمله په مسلمانانو وکړه،سره د دې چې د قافلې څخه ورته خبر هم
راغئ چې قافيله په خير سره تيره شوه،او تاسو بيرته وګرځئ،ليکن دوى
د کبر او غرور په نشه کې حمله وکړه،مګر کبر يې زوال شو،همدوى وو
چې:د حديبې ترون يې مات کړو،نو) أَتَخۡشَوۡنَهُمۡۚ آيا تاسو د دوى څخه
ويريږئ؟(چې جنګ ورسره نه کوئ،اى انسانانو د نورو انسانانو څخه مه
ويريږئ،بلکې) فَٱللَّهُ أَحَقُّ الله تعالى ډېر حقدار دى(د دې) أَن تَخۡشَوۡهُ
چې د هغه«جل جلاله» څخه وويريږئ إِن که چيرته كُنتُم ياستئ
تاسو مُّؤۡمِنِينَ مؤمنان. ﴿١٣﴾

قَٰتِلُوهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٖ
مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٤﴾

اوس الله تعالى مؤمنانو ته قطعي حکم کوي، چې: اى مؤمنانو!

قَٰتِلُوهُمۡ تاسو جنګ وکړئ د هغوى سره(يعنې د قريشو سره) يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ
الله تعالى به عذاب ورکړي هغوى ته بِأَيۡدِيكُمۡ ستاسو په لاسونو باندې
وَيُخۡزِهِمۡ او ذليل او خوار به ئې کړي وَيَنصُرۡكُمۡ او ستاسو مرسته به
وکړي عَلَيۡهِمۡ د هغوى په مقابل کې وَيَشۡفِ او يخې به کړي صُدُورَ

سينې(او يخ به کړي زړونه) قَوۡمٍ مُّؤۡمِنِينَ د قوم د مؤمنانو(يعنې د اسلام په غلبه او نصرت سره به د مؤمنانو زړونه يخ کړي). ﴿١٤﴾

وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوبِهِمۡۗ وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾

وَيُذۡهِبۡ او لرې به کړي(الله تعالى) غَيۡظَ غصه قُلُوبِهِمۡۗ د هغوى(يعنې د مؤمنانو) د زړونو څخه(يعنې چا چې وربانديې ظلم کړئ دى،او وعده خلافي يې ورسره کړي ده،نو په جنګ کې به ترې بدل واخلي،او غصه به يې د زړه نه وځي«المنار» ) وَيَتُوبُ او مهرباني کوي(او توفيق د توبې ورکوي) ٱللَّهُ الله تعالى عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ په هغه چا چې هغه«جل جلاله» وغواړي وَٱللَّهُ او الله تعالى عَلِيمٌ حَكِيمٌ ښه پوه،ښه حکمت والا دى. ﴿١٥﴾

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٦﴾

أَمۡ آيا حَسِبۡتُمۡ تاسو ګمان کړئ دى أَن چې تُتۡرَكُواْ تاسو به پرېښودل شئ(پرته د امتحان نه) وَ حال دا چې لَمَّا تر اوسه پورې نه دې يَعۡلَمِ معلوم کړې(نه دې ليدلې) ٱللَّهُ الله تعالى ٱلَّذِينَ هغه خلک جَٰهَدُواْ چې جهاد يې کړئ دى مِنكُمۡ ستاسو څخه (د الله تعالى په لار کې) وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ او نه يې دې نيولې مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالى څخه وَلَا رَسُولِهِۦ او نه (پرته) د هغه «جل جلاله» د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم»څخه وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ او نه (پرته) د مؤمنانو څخه وَلِيجَةٗۚ رازدار(او قلبې دوستان،يعنې د دنيا او آخرت بدله به نيکانو ته هم د الله تعالى په لار کې د جهاد ،او نيکو اعمالو د کولو د نتيجې نه وروسته ورکول کيږې،يا په بل عبارت جنت ته د تللو دپاره نيک اعمال کول ضرورې دي،داسې نه چې څوک وايې چې زما ډېره ښه عقيده ده،الله

تعالی منم،پیغمبر علیه السلام منم،ایمان مې راوړئ دی خو نه لمونځ کوي،نه روژې نیسي،نه د الله تعالی په لار کې جهاد او کوشش کوي،نه د قرآن او سنتو مطابق په دنیا کې ژوند او د خلکو سره راشه او درشه کوي،او جنت ته هم کلک په طمعه وي.) وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ او الله تعالی خبر دی بِمَا په هغو (اعمالو) تَعۡمَلُونَ چې تاسو يې کوئ. ﴿١٦﴾

مَا كَانَ لِلۡمُشۡرِكِينَ أَن يَعۡمُرُواْ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلۡكُفۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ وَفِي ٱلنَّارِ هُمۡ خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾

مَا كَانَ نه شته دی لِلۡمُشۡرِكِينَ مشرکانو ته (دا حق) أَن چې يَعۡمُرُواْ دوی جوړوي(اباديو) مَسَٰجِدَ مسجدونه ٱللَّهِ د الله تعالی(ځکه چې مسجدونه خصوصاً مسجد حرام خو د الله تعالی د توحید مرکزونه دي،مګر مشرکان خو پخپله) شَٰهِدِينَ شاهدان دي عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم په خپلو ځانونو بِٱلۡكُفۡرِۚ په کفرباندې(ځکه چې د بتانو عبادت کوي،او قريشو خو ۳۶۰ بتان په مسجد حرام کې ایښي وو،او عملي شاهدي یې ورکوله چې مشرکان دي) أُوْلَٰٓئِكَ دغه(مشرکان چې دي) حَبِطَتۡ برباد شوي دي أَعۡمَٰلُهُمۡ عملونه د دوی(یعنې قريشو به چې حاجیانو ته اوبه ورکولې،او د مسجد حرام خدمتونه به یې کول،او یا اوس چې څوک داسې کوي،نو د ایمان څخه پرته په کفر کې د دوی ټول نیک اعمال ضایع او برباد دي) وَفِي ٱلنَّارِ او په اور(د جهنم)کې به هُمۡ دوی خَٰلِدُونَ همیشه وي.
﴿١٧﴾

إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٨﴾ ۞

إِنَّمَا بېشکه خبره دا ده يَعۡمُرُ چې جوړوي(اباديو) مَسَٰجِدَ مسجدونه ٱللَّهِ د الله تعالی مَنۡ هغه څوک ءَامَنَ چې ایمان یې راوړئ وي بِٱللَّهِ

په الله تعالى باندې وَٱلۡيَوۡمِ او په ورځ ٱلۡأٓخِرِ د آخرت باندې وَأَقَامَ او
کوي(آدا کوي،قائموي) ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ وَءَاتَى او ورکوي ٱلزَّكَوٰةَ
زکات وَلَمۡ يَخۡشَ او نه ويريږي (د هيڅچا نه) إِلَّا مګر(يوازې) ٱللَّهَۖ
د الله تعالى(څخه ويريږي،نو د مسجدونو د جوړولو او خدمت کولو حقدار
دغه کسان دي.) فَعَسَىٰٓ نو اميد دی أُوْلَٰٓئِكَ (چې) دغه خلک أَن
يَكُونُواْ به وي مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ د(سمې) لار موندونکو څخه. ﴿١٨﴾ ۞

د مکې مشرکانو وويلې چې د مسجد حرام ودانول،خدمت کول او
حاجيانو ته اوبه ورکول د هغو خلقو د اعمالو څخه ډېر بهتر دي
چې:ايمان يې راوړی دی،او جهاد کوي.

أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ كَمَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَجَٰهَدَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَا يَسۡتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾

أَجَعَلۡتُمۡ ايا تاسو ګرځولي دي؟ سِقَايَةَ اوبه ورکول ٱلۡحَآجِّ حاجيانو ته
وَعِمَارَةَ او ابادول(او خدمت کول) ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ د مسجد حرام كَمَنۡ
د هغه چا(د عمل)په شان ءَامَنَ چې هغه ايمان راوړی بِٱللَّهِ په الله
تعالى باندې وَٱلۡيَوۡمِ او په ورځ ٱلۡأٓخِرِ د آخرت باندې وَجَٰهَدَ او جهاد
ئې کړی فِي سَبِيلِ په لار کې ٱللَّهِۚ د الله تعالى(يعني ای مشرکانو آيا
تاسو حاجيانو ته اوبه ورکول او د مسجد حرام مجاورې کول، په الله تعالى
او په ورځ دآخرت باندې د ايمان راوړلو او د الله تعالى په لار کې د جهاد
کولو سره برابر ګڼئ؟ الله تعالى فرمايي!) لَا يَسۡتَوُۥنَ برابر نه دي دوی
عِندَ ٱللَّهِۗ د الله تعالى په وړاندې وَٱللَّهُ او الله تعالى لَا يَهۡدِي هدايت نه
کوي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمانو خلکو ته. ﴿١٩﴾

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾

ٱلَّذِينَ هغه خلک ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ وَهَاجَرُواْ او هجرت يې کړئ(د الله تعالی د رضاء دپاره) وَجَٰهَدُواْ او جهاد يې کړئ فِي سَبِيلِ په لار کې ٱللَّهِ د الله تعالی بِأَمۡوَٰلِهِمۡ په خپلو مالونو سره وَأَنفُسِهِمۡ او په خپلو ځانونو سره أَعۡظَمُ لويې دَرَجَةً مرتبې يې دي عِندَ ٱللَّهِۚ د الله تعالی په وړاندې وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه(خلک) هُمُ همدوی ٱلۡفَآئِزُونَ کامياب دي ﴿٢٠﴾

يُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُم بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ وَجَنَّٰتٖ لَّهُمۡ فِيهَا نَعِيمٞ مُّقِيمٌ ﴿٢١﴾

يُبَشِّرُ زيرى ورکوې هُمۡ دوی ته رَبُّهُم رب خپل بِرَحۡمَةٖ په رحمت سره مِّنۡهُ د خپل طرف څخه وَرِضۡوَٰنٖ او د رضاءمندی(زيرى ورکوي د خپل طرف څخه) وَجَنَّٰتٖ او د جنتونو(زيرى ورکوي د خپل طرف نه) لَّهُمۡ (او د) دوی دپاره فِيهَا په دې (جنتونو) کې نَعِيمٞ نعمتونه دي مُّقِيمٌ تل پاتې(دائمي) ﴿٢١﴾

خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴿٢٢﴾

خَٰلِدِينَ (او دا جنتيان) به هميشه وي فِيهَآ په دې(جنتونو) کې أَبَدًاۚ تل تر تله إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی(چې دی) عِندَهُۥٓ د هغه «جل جلاله»سره أَجۡرٌ عَظِيمٞ ډېر لوی اجر دی. ﴿٢٢﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ إِنِ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡكُفۡرَ عَلَى ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اې هغه خلکو ءَامَنُواْ چې ايمان مو راوړئ دی( اې مؤمنانو) لَا تَتَّخِذُوٓاْ مه نيسئ تاسو ءَابَآءَكُمۡ پلرونه خپل وَإِخۡوَٰنَكُمۡ او ورونه خپل أَوۡلِيَآءَ دوستان إِنِ که چيرته ٱسۡتَحَبُّواْ خوښوې هغوی(که چيرته غوره کوې هغوی) ٱلۡكُفۡرَ کفر عَلَى ٱلۡإِيمَٰنِۚ په ايمان باندې وَمَن او

ځوک چې يَتَوَلَّهُم نيسي هغوی په دوستۍ مِّنكُمْ د ستاسو ځينې
فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه (خلک) هُمُ همدوی ٱلظَّٰلِمُونَ ظالمان دي ﴿٢٣﴾

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأْتِيَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾

قُلْ ته(ورته) ووايه إِن كَانَ كه چيرته وي ءَابَآؤُكُمْ پلرونه ستاسو وَأَبْنَآؤُكُمْ او ځامن ستاسو وَإِخْوَٰنُكُمْ او ورونه ستاسو وَأَزْوَٰجُكُمْ او ښځې ستاسو وَعَشِيرَتُكُمْ او خپلوان ستاسو وَأَمْوَٰلٌ او هغه مالونه ٱقْتَرَفْتُمُوهَا چې تاسو ګټلي دي هغه وَتِجَٰرَةٌ او(هغه) تجارت تَخْشَوْنَ چې ويريږئ تاسو كَسَادَهَا د نقصان د هغه څخه وَمَسَٰكِنُ او(هغه د اوسيدو) ځايونه تَرْضَوْنَهَآ چې تاسو خوښوئ هغه (نو كه دغه ذكر شوي اته«٨» شيان) أَحَبَّ ډير خوښ وي إِلَيْكُم تاسو ته مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى څخه وَرَسُولِهِۦ او د هغه«جل جلاله» د رسول«صلى الله عليه وسلم» څخه وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِۦ او د هغه«جل جلاله» په لار كې د جهاد څخه فَتَرَبَّصُواْ نو (بيا) انتظار كوئ حَتَّىٰ تر څو چې: يَأْتِيَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦۗ الله تعالى خپل حكم(يعني عذاب) راوليږي وَٱللَّهُ او الله تعالى لَا يَهْدِي هدايت نه كوي ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ نافرمانه خلكو ته. ﴿٢٤﴾ هر ځوک د خپل ځان په باره كې ښه قضاوت كولای شي،د تلې په يوه پله كې دې د دغې ذكر شوو «٨» شيانو سره خپل مينه او محبت واچوي،او په بله پله كې دې د الله تعالى او د نبي عليه السلام او د الله په لار كې د جهاد كولو سره خپل مينه او محبت واچوي،او د انصاف تول دې وكړئ،او بيا دې په عدالت باندې فيصله وكړي چې د جنت حقدار دی او كه د جهنم؟

لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾

په آيت د پوهيدلو دپاره ضروري معلومات.

د مکي معظمې د فتحې نه وروسته د طائف او خوا او شا عربي قبائلو يو لوی لښکر د مسلمانانو د منځه وړلو دپاره جوړ کړو،نبي عليه السلام چې خبر شو نو د دولس زرو مجاهدينو سره د مکې څخه د مقابلې دپاره وررروان شو،دا اول ځل وو چې د مسلمانانو دومره لوی لښکر د دښمن مقابلې ته ورغئ،چون د دښمن تعداد د دوی څخه کم وو نو د ځينو مسلمانو په زړونو کې دا خبره راغله چې نن خو فتحه زمونږ ده، دواړه لښکرې سره د حنين په وادې کې مخامخ شوي،د کفارو غشي ويشتونکو د مخکې څخه په جګو ځايونو کې مرچې نيولې وې،همدا چې مجاهدين وادې ته ورداخل شو،دښمن په يو ځل ورباندې ډيره سخته حمله وکړه،او د وادې د دواړو خواو څخه يې په مجاهدينو باندې د غشو داسې باران جوړ کړو،چې د مجاهدينو څخه بالکل لار غلطه شوه،خواره واره شو،دښمن ته يې شا کړه،او د جنګ ميدان يې پريښودلو،لنده دا چې د جنګ په ميدان کې يوازې نبي عليه السلام د ډيرو لږو صحاب کرامو رضی الله عنهم سره پاتې شو،او خپله سورلی يې د کفارو په طرف ورمخکې کړه،او فرمايل يې!چې زه د الله تعالی پيغمبر يم،دا څه دروغ نه دي،زه د عبد المطلب ځوی يم،او عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه ته ئې حکم وکړو چې انصارو او باقې مسلمانانو ته اواز وکړه چې زما خوا ته راشي،کله چې مسلمانانو اواز واوريدلو ټول سمدستې راوګرځيدل، داسې فيصله کن جنګ يې وکړو،او داسې سخت شکست يې مشرکانو ته ورکړو،چې نور

نو الله تعالی دارالکفر د همیشه دپاره په دارالاسلام بدل کړو.اوس آیت ته توجه وکړئ!

لَقَدۡ بیشکه نَصَرَ مرسته کړې كُمُ ستاسو ٱللَّهُ الله تعالی فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ په ډېرو ځایونو کې وَيَوۡمَ او (خصوصاً) په ورځ د حُنَيۡنٍ حنین(د جنګ) إِذۡ کله چې أَعۡجَبَتۡكُمۡ غره شوئ تاسو كَثۡرَتُكُمۡ په زیاتوالي خپل فَلَمۡ تُغۡنِ نو فایده ونکړه عَنكُمۡ تاسو ته (زیا توالي ستاسو) شَيۡـٔٗا هیڅ وَضَاقَتۡ او تنګه شوه عَلَيۡكُمُ په تاسو باندې ٱلۡأَرۡضُ ځمکه بِمَا رَحُبَتۡ سره د هغې د پراخوالي ثُمَّ وَلَّيۡتُم بیا تاسو وګرځیدئ مُّدۡبِرِينَ (په داسې حال کې چې) شا کوونکې وئ(دښمن ته) ﴿٢٥﴾

ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٦﴾

ثُمَّ أَنزَلَ بیا نازل کړو ٱللَّهُ الله تعالی سَكِينَتَهُۥ تسکین(او ډاډګیرنه) خپل عَلَىٰ رَسُولِهِۦ په خپل پیغمبر«صلی الله علیه وسلم»باندې وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ او په مؤمنانو باندې وَأَنزَلَ او نازل ئې کړې جُنُودٗا (داسې)لښکرې(د ملائیکو) لَّمۡ تَرَوۡهَا چې تاسو نه لیدلې هغه وَعَذَّبَ او عذاب ئې ورکړو ٱلَّذِينَ هغو (خلکو ته) كَفَرُواْ چې کافران وو وَذَٰلِكَ او دا جَزَآءُ جزا ده ٱلۡكَٰفِرِينَ د کافرانو، ﴿٢٦﴾

ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٢٧﴾

ثُمَّ يَتُوبُ بیا مهرباني وکړه ٱللَّهُ الله تعالی مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وروسته د دې(غلبې) څخه عَلَىٰ مَن په هغه چا باندې يَشَآءُۗ چې هغه«جل

جلاله» وغوښتل (يعنې د ايمان راوړلو توفيق ئې ورکړو) وَٱللَّهُ او الله تعالى غَفُورٌ ډېر بخښونکئ رَّحِيمٌ (او)رحم کووکئ دی ﴿٢٧﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٢٨﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو خلکو ءَامَنُوٓاْ چې ايمان يې راوړئ دی(اى مؤمنانو) إِنَّمَا بېشکه ٱلۡمُشۡرِكُونَ مشرکان نَجَسٞ نجس دي(ناپاکه دي) فَلَا يَقۡرَبُواْ نو دوى دې نه نيزدې کيږي ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ مسجد حرام ته بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وروسته د دې کال څخه(يعنې د هجرت د نهم کال څخه وروسته) وَإِنۡ او که چيرته خِفۡتُمۡ ويريږئ تاسو عَيۡلَةٗ د فقر(او غريبۍ څخه،چې ګنې د حاجيانو تعداد به کم شي او مونږ ته چې د هغوى د قربانيو او نذرانو نه کومه ګټه رارسيدله،هغه به کمه شي،او زمونږ تجارت به خراب شي، او غريب به شو.الله تعالى فرمايي:) فَسَوۡفَ نو زر به يُغۡنِيكُمُ غنيان کړي تاسو ٱللَّهُ الله تعالى مِن فَضۡلِهِۦٓ په خپل فضل سره إِن که چيرته شَآءَۚ هغه«جل جلاله» وغواړي(او همداسې وشو،په نيزدې وخت کې يو دم حالات بدل شو د روم او فارس سلطنتونه فتح شول،او ډېر زيات غنيمتونه مسلمانانو ته لاس ته ورغلل چې واقعاً د دومره مال سنبالول مسلمانانو ته مشکل شو.) إِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالى عَلِيمٌ ښه پوه حَكِيمٞ (او) حکيم دی. ﴿٢٨﴾

قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴿٢٩﴾

قَٰتِلُواْ وجنګيږئ(اى مؤمنانو) ٱلَّذِينَ د هغو(خلکو)سره لَا يُؤۡمِنُونَ
چې هغوى ايمان نه راوړي بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَلَا او نه بِٱلۡيَوۡمِ
ٱلۡأٓخِرِ په ورځ د آخرت باندې وَلَا يُحَرِّمُونَ او نه حراموي مَا
هغه(شيان) حَرَّمَ چې حرام کړي دي ٱللَّهُ الله تعالى وَرَسُولُهُۥ او د
هغه«جل جلاله» پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» وَلَا يَدِينُونَ او نه مني
دِينَ ٱلۡحَقِّ حق دين(د اسلام د خپل دين په حيث) مِنَ ٱلَّذِينَ د هغو
(خلکو) ځينې أُوتُواْ چې ورکول شوئ هغوى ته ٱلۡكِتَٰبَ (آسماني)
کتاب حَتَّىٰ تر دې پورې يُعۡطُواْ چې ورکړي هغوى ٱلۡجِزۡيَةَ جزيه
(ټکس) عَن يَدٖ په خپل لاس وَهُمۡ صَٰغِرُونَ په داسې حال کې چې دوى
عاجز(او تابع) وي(يعني د هغو کتابيانو سره وجنګيږئ:چې په الله تعالى
او د آخرت په ورځ ايمان نه راوړي،او هغه څه حرام نه ګڼي کوم چې الله
تعالى او نبي عليه السلام حرام کړي دي،او د اسلام حق دين نه مني،نو د
دوى سره وجنګيږئ تر څو پورې چې جزيه درکړي،او ځانونه ستاسو
څخه واړه،او ستاسو تابع وګڼي) ﴿٢٩﴾

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم
بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۚ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٣٠﴾

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ او يهوديان وايې عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ چې عزير عليه السلام د
الله تعالى ځوى دى وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى او نصارئ وايې ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ
چې عيسى عليه لسلام د الله تعالى ځوى دى ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ
دا(هسې) د دوى د خولو خبرې دي(کوم علمي دليل نه لرې،حقيقت دا دى)
يُضَٰهِـُٔونَ چې دوى تقليد کوي قَوۡلَ ٱلَّذِينَ د هغو (خلکو) د خبرو
كَفَرُواْ چې کافران وو مِن قَبۡلُۚ د مخه (د دوى څخه) قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۚ الله

تعالى دې هلاک کړي دوى أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ چې څنګه دوى(پرته د کوم علمي دليل نه د حق څخه باطل ته)اوړي. ﴿۳۰﴾

ٱتَّخَذُوٓاْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعْبُدُوٓاْ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۳۱﴾

ٱتَّخَذُوٓاْ دوى ( يعني يهودو او نصاراوو) نيولي دي أَحْبَارَهُمْ عالمان خپل وَرُهْبَٰنَهُمْ او عابدان(يعني روحانيون) خپل أَرْبَابًا خدايان مِّن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالى څخه وَٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ اوعيسى«عليه السلام د مريم«عليهاالسلام» ځوى(يي هم په خدايئ نيولئ دى. حضرت عدى بن حاتم رضى الله عنه چې د عيسايت څخه ئي اسلام قبول کړئ و،د نبي عليه السلام څخه يې د دې آيت د وضاحت په باره کې پوښتنه وکړه،نبي عليه السلام وفرمايل چې:دوى د عالمانو او عابدانو عبادت خو نه کولو،ليکن هغوى به چې کوم شى ورته حلال کړو،نو دوى به هغه ځانونو ته حلالولو.او هغوى به چې کوم شى ورته حرام کړو نو دوى به په ځانونو حرامولو،يعني د حرامو او حلالو قانون جوړول يوازې د الله تعالى حق دى،ليکن که پرته د الله تعالى څخه بل څوک دا د حلالو او حرامو قانون جوړوي،نو ګويا چې د الله تعالى په الوهيت کې ځان شريک او حيصه دار ګڼي،او هر څوک چې پرته د الله تعالى څخه د داسې خلکو د حرامو او حلالو جوړ شوئ قانون منې،نو دا داسې ده لکه چې پرته د الله تعالى څخه دوى،هغوى(يعنې د حلالو او حرامو جوړونکې) خپل ارباب(يعنې خدايان) منې.اوس هم «پوپ» دا اختيار لري چې حلال حرام کړي،او حرام حلال کړي) وَ حال دا چې: مَآ أُمِرُوٓاْ دوى ته حکم نه و شوئ(په تورات او په انجيل کې چې: پرته د الله تعالى څخه بل څوک په خدايئ ونيسئ يعنې د الله تعالى څخه پرته د بل چا د حلالو او

حرامو قانون ومنئ) إِلَّا مګر(داسې حکم ورته شوئ وو) لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ چې دوی دې د يو معبود عبادت کوي لَّآ إِلَٰهَ چې نشته (بل معبود(اولايق د عبادت) إِلَّا هُوَۚ مګر يوازې هغه«جل جلاله»(حق معبود او لايق د عبادت دی،او) سُبۡحَٰنَهُۥ هغه«جل جلاله» پاک دی عَمَّا د هغه څه نه يُشۡرِكُونَ چې دوی يې ورسره شريکوي ﴿٣١﴾

يُرِيدُونَ أَن يُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَيَأۡبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾

يُرِيدُونَ دوی(يعني کتابيان) غواړي أَن يُطۡفِـُٔواْ چې مړه کړي نُورَ ٱللَّهِ رڼا د الله تعالی(د دين) بِأَفۡوَٰهِهِمۡ د خپلو خولو(په غلطو او بې اساسه تبليغاتو)باندې وَيَأۡبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ او د الله تعالی فيصله ده چې مکمله کړي(او پوره ورسوي) نُورَهُۥ رڼا د هغه«جل جلاله» (د دين ټولې دنيا ته) وَلَوۡ كَرِهَ اګر که بد يې ګڼې ٱلۡكَٰفِرُونَ کافران ﴿٣٢﴾

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ﴿٣٣﴾

هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلَّذِيٓ هغه (ذات دی) أَرۡسَلَ چې رالېږلئ ئې دی رَسُولَهُۥ پيغمبر خپل(محمد«صلی الله عليه وسلم» بِٱلۡهُدَىٰ په هدايت سره وَدِينِ ٱلۡحَقِّ او په رېښتينې دين سره لِيُظۡهِرَهُۥ د دې دپاره چې غالبه کړي هغه عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ په ټولو دينونو باندې وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ اګر که مشرکان يې بد ګڼې. ﴿٣٣﴾ يعنې په دنيا کې د دين د قائمولو او غالبولو دپاره جدوجهد او کوشش په مونږ ټولو باندې د نبي عليه السلام د امتيانو په حيث فرض دی،اګر چې اکثره خلکو د دې فرضو څخه د ځان خلاصولو دپاره دلايل جوړ کړي دي،خو حقيقت دا دی چې د دې فرضو څخه د تېښتې هيڅ لار نشته دی (بيان القرآن)

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ
بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا
فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ اى هغو خلكو ءَامَنُوٓاْ چي ايمان مو راوړئ دی إِنَّ كَثِيرًا بېشکه زيات مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ د عالمانو وَٱلرُّهۡبَانِ او درويشانو(روحانينو څخه داسي دي،چې:) لَيَأۡكُلُونَ خوري أَمۡوَٰلَ مالونه ٱلنَّاسِ د خلكو بِٱلۡبَٰطِلِ په غلطو(طريقو) سره(يعني شيخ القرآن،شيخ الحديث،شيخ الاسلام،علامه،قطب الزمان،غوث الزمان او نور ډېر لوی-لوی نومونه به يې په ځان ايښي وی،ليکن حقيقت به يې دا وي چې د علم او درويشی دا ټول القاب به يوازې د دنيا او دولت د ګټلو دپاره استعمالوي،د كفر او د شرک عقيدې د خپل كاروبار د چلولو او پيسو د ګټلو دپاره په خلکو کې خوروي.د علي رضی الله عنه څخه روايت دی چې:نبي عليه السلام فرمايلی دي چې: په مسلمانانو باندې به داسې وخت راشي،چې د اسلام به صرف نوم پاتې شي،او د قرآنكريم به يو نقش«يعني ليكل شوئ نقش يا انځور» پاتې شي،مسجدونه به اباد وي مګر د هدايت څخه به خالي وي،د آسمان د چت لاندې به بدترين مخلوق علماء وي،د دوی نه به فتنې راوځي او دوی ته به ورګرځي) وَيَصُدُّونَ او دوی(يعني علماء) به منع كوي(خلک) عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ د الله تعالی د لارې څخه(يعني دوی چې د قرآن او سنتو خلاف كومي كفرې او شركي طريقې پخپله جوړي كړي دي،نو كه كوم مخلص مسلمان د دوی پيروانو ته ووايي چې دا تاسو چې څه كوئ دا شرک او كفر دی،او واقعي او سوچه اسلام ته دعوت وركړي،نو دا علماء سوء د حق په داعي د كفر ټاپې لګوي،او نه پرېږدي چې پيروان ورڅخه لاړ شي،ځكه چې پيروان خو د دوی د عايداتو او امدن منبع ده، د همدوی څخه په ناروا طريقو

مالونه او دولتونه اخلي،او ورباندې جايدادونه،سره او سپين زر
اخلي،خزانې او دولتونه جمع کوي.الله تعالی فرمايی:) وَٱلَّذِينَ هغه
خلک يَكۡنِزُونَ چې جمع کوي ٱلذَّهَبَ سره زر وَٱلۡفِضَّةَ او سپين زر
وَلَا يُنفِقُونَهَا او نه مصرفوي هغه(سره او سپين زر يعنې جمع شوئ
دولت) فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لار کې فَبَشِّرۡ نو زيری ورکړه
هُم دوی ته بِعَذَابٍ أَلِيمٖ په درد ناک عذاب باندې. ﴿٣٤﴾

يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا
مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ﴿٣٥﴾

يَوۡمَ (د قيامت) په ورځ يُحۡمَىٰ به ګرميږي عَلَيۡهَا دغه(خزانې) فِي
نَارِ په اور کې جَهَنَّمَ د جهنم فَتُكۡوَىٰ او داغونه به ورکول کيږي بِهَا
په دې(ګرمو شوو خزانو)باندې جِبَاهُهُمۡ تنديو ته د دوی وَجُنُوبُهُمۡ او
اړخونو ته د دوی وَظُهُورُهُمۡۖ او ملاګانو(شاګانو) ته د دوی (او ورته
به ويل کيږي) هَٰذَا دا مَا هغه(مال او خزانې دي) كَنَزۡتُمۡ چې جمع
کړې وې تاسو لِأَنفُسِكُمۡ خپلو ځانونو ته(په ناروا او حرامو طريقو سره)
فَذُوقُواْ نو(اوس) وڅکئ (خوند او مزه) مَا د هغو(خزانو او دولت)
كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ چې تاسو(په دنيا کې)جمع کول. ﴿٣٥﴾

إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثۡنَا عَشَرَ شَهۡرٗا فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ يَوۡمَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ مِنۡهَآ أَرۡبَعَةٌ حُرُمٞۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُۚ فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡۚ وَقَٰتِلُواْ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةٗ كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ كَآفَّةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾

بايد پوه شو چې:اسلامي مياشتو ته قمري سنه وايي،مسلمانان د حج،روژو
او اخترونو حساب په دې مياشتو کوي،دولس قمرې مياشتې يو قمرې کال
کيږي،او يو قمرې کال ٣٥٥ ورځې کيږي،او بل شمسي سنه ده،چې يو
شمسي کال ٣٦٥ ورځې او شپږ ساعتونه کيږي،چې په دې حساب سره

قمريِ كال د شمسيِ كال څخه لس ورځې كم دی،چې د همدې لس ورځو د كمولې په سبب كله روژه او حج په ژمي كې راځې او كله په اوړي كې راځې،په قمريِ دولس مياشتو كې چې د ابراهيم او اسماعيل عليهما السلام د دين څخه په عربو كې پاتې وې،څلور مياشتې حرامې يا د عزت مياشتې دې،يعنې په دې څلور مياشتو كې جنګ او جدال حرام دی،چې عبارت دې د «رجب،ذی القعده،ذی الحجه او محرم»څخه ،عربانو د دې مياشتو احترام كولو،جنګونه او ظلمونه به يې په كې نه كول،خو وروسته مشركانو بدعات شروع كړل،او په خپله خوښه به يې حلالې او حرامې مياشتې مخكې او وروسته كولې،يعنې حرامې مياشتې به يې حلالولې او حلالې مياشتې به يې حرامولې،مثلاً كله به چې د حج څخه راو ګرځيدل،چون د محرم مياشت حرامه وه او دوی په كې جنګ نشو كولای،نو د دې دپاره چې جنګ او ظلم كول ځانونو ته روا كړي،نو د محرم نه وروسته مياشت يعنې صفر چې حلاله وه يعنې جنګ كول په كې حرام نه وو،نو دوی به د صفر حلاله مياشت را وروسته كړه،يعنې د محرم مياشتې ته به يې راوستله،او په دې ترتيب به يې د محرم په حرامې مياشت كې د جنګ كولو جواز ځانونو ته جوړ كړو،او د محرم حرامه مياشت به يې مخكې كړه،او د صفر حلاله مياشت به يې حرامه كړه.او همدارنګه د حج مياشتې به يې هم مخكې او وروسته كولې،يعنې يو كال به يې حج په ذی القعده كې كولو او په بل كال كې به يې په ذی الحجه كې كولو.اوس آيت ته توجه وكړئ!

إِنَّ بېشكه عِدَّةَ شمير ٱلشُّهُورِ د مياشتو عِندَ ٱللَّهِ د الله تعالى په نزد(د الله تعالى په وړاندې) ٱثۡنَا عَشَرَ دولس شَهۡرٗا مياشتې دې فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ د الله تعالى په كتاب كې يَوۡمَ د هغې ورځې(د هغې وخت څخه چې: خَلَقَ هغه«جل جلاله» پيدا كړې دي ٱلسَّمَٰوَٰتِ آسمانونه وَٱلۡأَرۡضَ او

ځمکه(يعني کوم تغير په کې نه دی راغلئ) مِنۡهَآ چې: د دې(دولس مياشتو)څخه أَرۡبَعَةٌ ځلور(مياشتې) حُرُمٞۚ حرامې(يا د عزت مياشتې دي چې جنګ او جدال په کې حرام دی) ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُۚ همدا صحيح دين دی فَلَا تَظۡلِمُواْ نو ظلم مه کوئ فِيهِنَّ په دې (مياشتو) کې أَنفُسَكُمۡۚ په خپلو ځانونو باندې(يعني مه دا د عزت مياشتې وروسته او مخکې کوئ،او مه ګناه کوئ) وَقَٰتِلُواْ او جنګ کوئ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشرکانو سره كَآفَّةٗ ټول كَمَا لکه څنګه چې يُقَٰتِلُونَكُمۡ هغوی جنګ کوي ستاسو سره كَآفَّةٗۚ ټول وَٱعۡلَمُوٓاْ او پوه شئ أَنَّ ٱللَّهَ بېشکه چې الله تعالی مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ د متقيانو سره(ملګرى) دی. ﴿٣٦﴾

إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُۚ زُيِّنَ لَهُمۡ سُوٓءُ أَعۡمَٰلِهِمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾

إِنَّمَا بېشکه ٱلنَّسِيٓءُ (د حرامو مياشتو) وروسته او مخکې کول زِيَادَةٞ زياتوالئ دی فِي ٱلۡكُفۡرِۖ په کفر کې يُضَلُّ (چې) ګمراه کيږي(غلطيږي) بِهِ په دې(د مياشتو په مخکې او وروسته کولو سره) ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې کافران دي(يعني عام کافران په دې کار سره ګډوډ کيږي،ځکه چې:) يُحِلُّونَهُۥ دوی حلالوی دا(مياشتې) عَامٗا يو کال وَيُحَرِّمُونَهُۥ او حراموي دا(مياشتې) عَامٗا ( بل) کال لِّيُوَاطِـُٔواْ د دې دپاره چې پوره کړي دوی عِدَّةَ شمير مَا د هغو(ځلورو حرامو مياشتو) حَرَّمَ ٱللَّهُ چې الله تعالی حرامې کړي دي فَيُحِلُّواْ نو حلالوي مَا هغه(مياشتې) حَرَّمَ ٱللَّهُۚ چې الله تعالی حرامې کړي دي زُيِّنَ (او) ښايسته شوي دي لَهُمۡ دوی ته سُوٓءُ بد أَعۡمَٰلِهِمۡۗ اعمال د دوی وَٱللَّهُ او الله تعالی لَا يَهۡدِي نکوي هدايت ٱلۡقَوۡمَ قوم ٱلۡكَٰفِرِينَ د کافرانو ته. ﴿٣٧﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ﴿٣٨﴾

څرنګه چې د شپږمې رکوع څخه د تبوک د غزا موضوع شروع کیږي،نو په آیاتونو د بنه پوهيدلو دپاره باید د تبوک په غزا په لنډ ډول رڼا واچوو.

د حديبي د صلحې څخه وروسته نبي عليه السلام د عربو مختلفو ځايونو او د مختلفو ملکونو بادشاهانو ته اسلام ته د رابللو دعوت نامې د صحابه كرامو رضى الله عنهم پواسطه وليږلې،خو هغه قبائل چې د شام دسرحد سره اوسيدل،عيسايان وو،او د هرقل (قيصر روم) تابع وو،نو كله چې دوى ته د نبي عليه السلام دعوت نامې وروړل شوي،دوى صحابه كرام رضى الله عنهم شهيدان کړل،نو په دې سبب نبي صلى الله عليه وسلم، د ۳۰۰۰ مجاهدينو يو لښكر د شام د سرحد په طرف وليږلو،سره د دې چې لښكر ته په لار كې معلومه شوه چې (شرجيل) د يو لاک(۱۰۰۰۰۰)لښكر سره ستاسو مقابلې ته راروان دى،او قيصر روم د خپل ورور په مشرئ يو لاک (۱۰۰۰۰۰) لښكر نور هم ورپسې راوليږلو،ليكن د دې سره-سره بيا هم سرفروشه درې زره مجاهدين وررروان وو،نه يې د خطر پروا كوله او نه ويريدل،تر څو چې د موته په مقام كې يې د شرجيل د يولاک(۱۰۰۰۰۰) لښكر سره ټكر او مقابله شوه،داسې خونړئ جنګ ونښتو چې مثال يې په تاريخ كې نشته دى،ظاهراً خو هر چا فكر كولو چې مجاهدين به بالكل نيست او نابود شي ،ليكن ټول د شرق ميانه او د عربو خلک حيران پاتې شو چې:د درې

زره(۳۰۰۰) مجاهدینو او یو لک ( ۱۰۰۰۰۰) کفارو په مقابله کې بیا هم کفار په مسلمانانو باندې کامیاب نشو.

همدا سبب وو چې: د شام سره نېزدې نیمه ازاد قبائل،او د عراق سره نیزدې قبائل چې د (کسرَی) د حکم تابع وو،ټول اسلام ته متوجه شو او په زرهاوو خلک مسلمانان شو.د روم د سلطنت یا قیصر روم د عربې لښکر قوماندان(کمانډر) مسلمان شو،او د خپل ایمان داسې زبردست ثبوت ئې ورکړو چې خوا او شاه ټول خلک ئې حیران کړل.

د همدې واقعاتو څخه قیصر روم احساس وکړ،او دا ویره ورته پیدا شوه چې کوم خطر چې کفارو ته په عربو کې پیدا شوئ دی،هغه زما د سلطنت خوا ته راروان دی،نو د موته د غزا د بدل اخستلو او د مسلمانانو د منځه وړلو دپاره یې د شام په سرحد باندې د نظامې او عسکرې قواوو جمع کول د دې مقصد دپاره شروع کړل،چې یو لوی او قوی لښکر په مدینه منوره باندې د حمله کولو دپاره برابر کړي ترڅو چې د عربو څخه دا را پیدا شوئ خطر د همیشه دپاره د منځه ویسې،خو نبي علیه السلام هم د حالاتو څخه بي خبره نه وو،کله چې هغه«صلی الله علیه وسلم» خبر شو چې قیصر روم د مسلمانانو سره د جنګ کولو دپاره د شام په سرحد کې نظامې قواوې راجمع کوي،نو په ښکاره یې په جهر سره اعلان وکړو،چې ټول سرفروشه مؤمنان دې تیار شي،شام ته ځو او د هرقل(قیصر روم) د فوځونو سره ټکر او جنګ دی،ډېره ګرمې او د فصلونو د اخستلو وخت و،منافقینو خو ډول-ډول بهانې جوړې کړي،لیکن ځینې مسلمانان هم پرته د شرعې عذر څخه د غزا څخه پاتې شول،خو بیا هم په دومره سختو حالاتو کې دیرش زره مؤمنانو د هغه «صلی الله علیه وسلم» اعلان ته لبیک وویلې،جنګ ته تیار شو، او د دیرش زره صحابه

كرامو لښكر چې اعلى سر قوماندان يې پخپله نبي عليه السلام و،د شام د سرحد په طرف د قيصر روم د عظيم الشان فوځونو مقابلې ته وروان شو،خو كله چې قيصر روم خبر شو چې د ديرش زرو صحابه كرامو«رضى الله عنهم» لښكر راروان دى،او اعلى سر قوماندان يې هم پخپله پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» دى،نو د پغمبر عليه السلام سره ورته مقابله كول پرته د خپل هلاكت څخه بل څه نه ښكاريدل،ځكه چې هغه ته خو د درې زرو صحابه كرامو طاقت او زور د موته په غزا كې معلوم شوئ وو، چې د دوى يو لك فوځ ورباندې كامياب شوئ نه وو،نو اوس د ديرش زرو صحابه كرامو«رضى الله عنهم» په مقابل كې، په داسې حال كې چې اعلى سر قوماندان يې هم پخپله پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» دى، دوه لاكه او درې لاكه فوځ بې معنى دى چې يا يې مخې ته ودرېږي او يا ورسره مقابله وكړي،نو قيصر روم پرته د دې څخه چې ميدان پرېږدې او خپل فوځونه د هلاكت څخه بچ كړي،نوره هيڅ چاره او لاره نه لرله،نو د نبى عليه السلام د ورسيدلو څخه مخكې د ميدان څخه وتښتيدل، سرحد يې تخليه كړو،خپل په لكهاوو-لكهاوو فوځونه يې بيرته بوتلل،او په غيرې مستقيم ډول يې د نبي عليه السلام په مقابل كې خپل شكست تسليم كړو.نبى عليه السلام ۲۰ شل ورځې په تبوک كې چې د شام د سرحد سره نيزدې منطقه ده، ايسار شو،او د مسلمانانو دا د جنګ څخه پرته فتحه د دې سبب شوه چې هغه واړه-واړه رياستونه چې د روم د سرحد سره پراته وو،او د قيصر روم د لاس لاندې وو،هغوى د مسلمانانو اطاعت قبول او مسلمانانو ته يې باج وركول قبول كړل،ځكه دا څه دومره وړه فتحه نه وه ،ځكه چې ايرانيانو ته د شكست وركولو څخه وروسته په عربو او خوا او شا سيمو كې د قيصر روم دومره ډېر زيات رعب او دبدبه وه،چې د نوم څخه به يې په خلكو هيبت راتلو،نو د هغه په دې ډول

د جنګ میدان مسلمانانو ته پرېښودل،په عربو او خوا او شا سیمو کې د اسلام ډېر زیات رعب او دبدبه د خلکو په زړونو کې پیدا کړه،او د اسلام دین د یو حقیقت او طاقت په حیث ومنل شو،هغه عربي قبائل او ریاستونه چې:قیصر روم به د عربانو په خلاف استعمالول،هغوی د مسلمانانو سره ملګرې شو،او په دې ترتیب د اسلامي اقتدار حدود د روم د سرحد پورې ورسیدل،او د هغو خلکو او منافقانو ملاګانې ماتې شوې چې بیا یې د جاهلیت د وخت د شرکي نظام د راوستلو خوبونه لیدل.او د دنیا دپاره دا د توحید مرکز الله تعالی د مشرکانو او کفارو څخه د همیشه دپاره پاک کړو.اوس آیاتونو ته توجه وکړئ!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو کسانو ءَامَنُواْ چې ایمان یې راوړی (ای مؤمنانو) مَا لَكُمۡ په تاسو څه شوي دي إِذَا کله چې قِيلَ ویل کیږي لَكُمُ تاسو ته ٱنفِرُواْ چې ووځئ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لار کې(جهاد وکړئ،نو) ٱثَّاقَلۡتُمۡ تاسو درانه(کینئ) إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ په ځمکه أَرَضِيتُم (فکر وکړئ) آیا غوره کړو تاسو بِٱلۡحَيَوٰةِ ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنیا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ د آخرت د(ژوند)څخه؟(آیا د جنت په مقابل کې مو دنیا خوښه کړه؟) فَمَا نو(پوه شئ چې:) نه دی مَتَٰعُ ساز او سامان ٱلۡحَيَوٰةِ د ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنیا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ د آخرت په مقابل کې إِلَّا قَلِيلٌ مګر ډېر لږ دی(نبي علیه السلام فرمایي:په الله قسم! د دنیا حیثیت د آخرت په مقابل کې داسې دی،لکه څوک چې ګوته په دریاب کې ښکته کړي،او بیرته یې راوباسي،نو ودې ګوري چې څومره اوبه به یې د ګوتې سره راپورته شوي وي.یعني د دنیا ژوند،خوشالي مالونه او دولتونه و غیره ټول د آخرت د ژوند او نعمتونو په مقابل کې د هیڅ برابر دي.) ﴿٣٨﴾

إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـًٔاۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿۳۹﴾

إِلَّا تَنفِرُواْ او كه تاسو نه ځئ (جهاد ته،يعني كه د الله تعالى په لار كې جهاد نه كوئ،نو) يُعَذِّبۡكُمۡ هغه «جل جلاله» به تاسو ته عذاب دركړي عَذَابًا أَلِيمًا دردناک عذاب(يعني تاسو به هلاک کړي) وَيَسۡتَبۡدِلۡ او ستاسو په ځاى به راولي قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ پرته ستاسو ځخه نور خلک(چې د الله تعالى پوره فرمانبردار به وي،او د هغه«جل جلاله» په لار کې به جهاد کوي) وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـًٔاۗ او تاسو به هغه«ج جلاله» ته هيڅ ضرر ونه رسوئ وَٱللَّهُ او الله تعالى عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی(يعني که الله تعالى وغواړي پرته ستاسو د جهاد او اسبابو څخه هم خپل دين غالبه کولای شي.) ﴿۳۹﴾

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَاۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾

إِلَّا تَنصُرُوهُ كه تاسو د هغه«صلى الله عليه وسلم» مرسته نه کوئ فَقَدۡ نو بېشکه (هغه وخت هم) نَصَرَهُ ٱللَّهُ الله تعالى د هغه«عليه السلام» مرسته کړې ده إِذۡ کله چې أَخۡرَجَهُ هغه «عليه السلام» وويستلو(د مکې معظمې ځخه) ٱلَّذِينَ هغو خلکو كَفَرُواْ چې کافران وو ثَانِيَ (په داسې حال کې چې هغه عليه السلام) دوهم (کس) و ٱثۡنَيۡنِ د دوه(کسانو.يعني صرف دوه کسان وو،يو ابوبکر صديق رضى الله عنه او بل پخپله محمد«صلى الله عليه وسلم» و،او د کفارو پياده او سواره ورپسې راوتې وو) إِذۡ (هغه وخت هم راياد کړئ)کله چې هُمَا هغوى

فِي ٱلۡغَارِ په غار (ثور) كې(د كفارو څخه داخل شو،او كفار هلته هم د غار خولې ته ورپسې وروړسيدل،او ابوبكر رضى الله عنه د نبي عليه السلام دپاره غمجن شو،او ويې ويل چې يا رسول الله«صلى الله عليه وسلم» كه كفار خپلو پښو ته وګورې نو ورته ښكارو،نو) إِذۡ (دا هم ياد كړئ) كله چې يَقُولُ هغه«صلى الله عليه وسلم» ويلې لِصَٰحِبِهِۦ خپل ملګرې(ابوبكر صديق رضى الله عنه) ته لَا تَحۡزَنۡ چې: مه غمجن كيږه(غم مه كوه) إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالى مَعَنَاۖ زمونږ سره دى فَأَنزَلَ نو نازل كړو ٱللَّهُ الله تعالى سَكِينَتَهُۥ سكون د خپل طرف څخه عَلَيۡهِ په هغه«صلى الله عليه وسلم» باندې وَأَيَّدَهُۥ او د هغه«صلى الله عليه وسلم» مدد ئې وفرمايلو بِجُنُودٖ په داسې لښكرو سره لَّمۡ تَرَوۡهَا چې تاسو هغه نه ليدلې وَجَعَلَ او هغه«جل جلاله» وګرځوله كَلِمَةَ خبره (او تدبير) ٱلَّذِينَ د هغو خلكو كَفَرُواْ چې كافران وو ٱلسُّفۡلَىٰۗ ټيټه(او ذليله،يعني د دې واقعې نتيجه دا راووتله چې:بلآخره كفر او شرک ناكام شو،او په ټول جزيرة العرب كې د الله تعالى دين غالب شو.) وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ او د الله تعالى كليمه هِيَ همدا ٱلۡعُلۡيَاۗ د ټولو نه اوچته ده(يعني توحيد او د الله تعالى دين د ټولو څخه اوچت دى) وَٱللَّهُ او الله تعالى عَزِيزٌ حَكِيمٌ ډېر زورور (او) حكيم دى. ﴿٤٠﴾

ٱنفِرُواْ خِفَافٗا وَثِقَالٗا وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾

ٱنفِرُواْ (اى مؤمنانو) ووځئ خِفَافٗا وَثِقَالٗا سپک او درانه(يعني د سپكو او درنو وسلو سره،كه سواره يئ كه پياده،كه ځوانان يئ كه سپين ږيرې،مالدار يئ كه غريب،په هر حال كې پرته د شرعي عذر څخه ټول د تبوک غزا ته لاړ شئ) وَجَٰهِدُواْ او جهاد وكړئ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ په خپلو

مالونو سره وَأَنفُسِكُمۡ او په خپلو ځانونو سره فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ د الله تعالى په لار كې(د قيصر روم د فوځونو سره) ذَٰلِكُمۡ دا(په مالونو او ځانونو جهاد كول) خَيۡرٞ ډېر بهتر دي لَّكُمۡ تاسو ته إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ كه چيرته تاسو پوهيږئ. ﴿٤١﴾

لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا وَسَفَرٗا قَاصِدٗا لَّٱتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلشُّقَّةُۚ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٤٢﴾

د تبوك غزا په مسلمانانو باندې فرض عين وه، چې د هغې څخه پاتې كيدل ګناه وه،خو منافقينو به د غزا څخه د پاتې كيدلو دپاره بهانې جوړولې،او نبي عليه السلام به هم اجازه وركوله.نو الله تعالى فرمايي!

لَوۡ كَانَ عَرَضٗا قَرِيبٗا كه چيرته دا نيزدې(او بې تكليفه) ګټه وه(د دوى دپاره) وَسَفَرٗا قَاصِدٗا او سفر هم آسان و(يعنې كه نزدې غزا وه،او دوى پوهيدلاى چې: بې تكليفه د غنيمت مال په لاس راځي،نو دوى به!) لَّٱتَّبَعُوكَ خامخا ستا تابعدارې(او پيروې)كړې وه(يعنې د غزا څخه به پاتې شوي نه وو،خامخا به درسره تللي وو) وَلَٰكِنۢ ليكن بَعُدَتۡ لرې ښكاره شوه عَلَيۡهِمُ دوى ته ٱلشُّقَّةُۚ لاره(د تبوك،ځكه چې د ايمان د قوت څخه پرته تقريباً ٨٠٠ كيلومتره سفر د منافقينو دپاره د اوړې په ګرمۍ كې آسان نه و،البته مؤمنانو په ايماني قوت او اسلامي جذبه سره دا سفر كولو) وَسَيَحۡلِفُونَ او (تاسو چې د تبوك څخه بيرته راشئ،نو دوى(يعنې منافقان) به قسمونه خوري بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې(او وايي به) لَوِ كه چيرته ٱسۡتَطَعۡنَا زمونږ طاقت وو لَخَرَجۡنَا خامخا به مونږ وتلي وو(خامخا به مونږ تللي وو) مَعَكُمۡ ستاسو سره(د تبوك غزا

ته،څو!) يُهۡلِكُونَ هلاكوي دوى أَنفُسَهُمۡ ځانونه خپل وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ او الله
تعالى پوهيږي إِنَّهُمۡ بېشكه چې دوى لَكَٰذِبُونَ دروغجن دي. ﴿٤٢﴾

عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَتَعۡلَمَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٤٣﴾

عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ (اى پيغمبر«صلى الله عليه وسلم») الله تعالى دې تا ته
بخښنه وكړي لِمَ ولې أَذِنتَ تا اجازه وركړه لَهُمۡ هغوى(يعني
منافقانو) ته(د غزا څخه د پاتې كيدلو) حَتَّىٰ (مخكې) د دې يَتَبَيَّنَ چې
ښكاره شوي وو لَكَ تا ته ٱلَّذِينَ هغه خلک صَدَقُواْ چې رېښتيني وو
وَتَعۡلَمَ او پيژندلې دې وو ٱلۡكَٰذِبِينَ دروغجن(خلک) ﴿٤٣﴾

لَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾

لَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ (اى محمد«صلى الله عليه وسلم») اجازه نه غواړي ستا نه(د
جهاد څخه د پاتې كيدلو) ٱلَّذِينَ هغه خلک يُؤۡمِنُونَ چې ايمان لري
بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ او په ورځ د آخرت باندې (بلكې
غواړي) أَن چې: يُجَٰهِدُواْ جهاد وكړي بِأَمۡوَٰلِهِمۡ په خپلو مالونو سره
وَأَنفُسِهِمۡۗ او په خپلو ځانونو سره(د الله تعالى په لار كې) وَٱللَّهُ او الله
تعالى عَلِيمُۢ ښه عالم دى بِٱلۡمُتَّقِينَ په پرهيزګارانو باندې. ﴿٤٤﴾

إِنَّمَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱرۡتَابَتۡ قُلُوبُهُمۡ فَهُمۡ فِي رَيۡبِهِمۡ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾

إِنَّمَا بېشكه حقيقت دا دى يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ چې ستا نه(د جهاد څخه د
پاتې كيدلو) اجازه هغه(خلک) غواړي لَا يُؤۡمِنُونَ چې ايمان نلري بِٱللَّهِ

په الله تعالی باندې وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ او په ورځ د آخرت باندې وَٱرۡتَابَتۡ
او په شک کې دي قُلُوبُهُمۡ زړونه د هغوی فَهُمۡ نو هغوی فِي رَيۡبِهِمۡ
په خپل شک کې يَتَرَدَّدُونَ حيران (او سرګردان دي.يعنې د دوی په
ايمان کې د شکونو په سبب، نه پوهيږي چې څه وکړي،که جهاد ته نه
ځي،منافقت يې رسوا کيږي او د مسلمانو سره يې د ظاهرې ايمان راوړلو
اعتبار هم خرابيږي،او که ځي د مرګ او تکليف نه ويريږي.ځکه چې د
تبوک پورې د ۸۰۰ کيلومترو سفر هغه هم په ګرمې کې،د منافق دپاره
آسان کار نه و.) ﴿٤٥﴾

۞ وَلَوۡ أَرَادُواْ ٱلۡخُرُوجَ لَأَعَدُّواْ لَهُۥ عُدَّةٗ وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمۡ فَثَبَّطَهُمۡ وَقِيلَ ٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٤٦﴾

۞ وَلَوۡ او که چيرته(منافقانو په ربښتيا) أَرَادُواْ اراده کړې وه ٱلۡخُرُوجَ
د وتلو(او د تللو جهاد ته،نو) لَأَعَدُّواْ خامخا به دوی تيار کړې وو لَهُۥ
هغه(يعنې جهاد) ته عُدَّةٗ سامان (يعنې سلاح او د سفر سامان.چې دا د
تيارۍ نه کول د دې ثبوت و، چې دوی د جنګ اراده هم نه وه کړې)
وَلَٰكِن ليکن(حقيت دا دی،چې د دوی د منافقت په سبب) كَرِهَ ٱللَّهُ خوښ
نه کړل الله تعالی ٱنۢبِعَاثَهُمۡ راپورته کيدل(او وتل) د دوی(جهاد ته د
مسلمانانو سره) فَثَبَّطَهُمۡ نو توفيق يې ورنکړو(د جهاد) وَقِيلَ او وويل
شو(او زړونو کې ورته دا خبره واچول شوه) ٱقۡعُدُواْ چې کښينئ(په
کورونو کې) مَعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ د کښيناستونکو سره(يعنې د معذورو،سپين
ږيرو او ماشومانو سره) ﴿٤٦﴾

لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا خَبَالٗا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾

لَوۡ که چیرته خَرَجُواْ دوی(یعنې منافقان) وتلې وو(تللې وو) فِيكُم په تاسو کې(جهاد ته،نو) مَّا زَادُوكُمۡ دوی به نه و زیات کړئ ستاسو(قوت) إِلَّا مګر خَبَالٗا شر (او فساد به یې درکې پیدا کړئ وو) وَلَأَوۡضَعُواْ او(د شیطانت آسونه به یې) زغلولې وو خِلَٰلَكُمۡ ستاسو په منځ کې يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ او فتنې به یې درکې اچولې وَفِيكُمۡ (ځکه چې داسې دوی(یعنې د منافقانو) د خلک) په تاسو کې شته دی سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ چې د خبرو اوریدونکې دي( د خپلوی یا خوش باوری په سبب د هغوی خبرې ښه په غور سره اورې) وَٱللَّهُ او الله تعالی عَلِيمُۢ ښه عالم دی بِٱلظَّٰلِمِينَ په ظالمانو باندې ﴿٤٧﴾

لَقَدِ ٱبۡتَغَوُاْ ٱلۡفِتۡنَةَ مِن قَبۡلُ وَقَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ حَتَّىٰ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَظَهَرَ أَمۡرُ ٱللَّهِ وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ﴿٤٨﴾

لَقَدِ ٱبۡتَغَوُاْ ٱلۡفِتۡنَةَ مِن قَبۡلُ (بېشکه:د دې څخه مخکې هم منافقینو فتنې پیدا کولې) وَقَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ (او ستا د ناکامولو دپاره یې ډول-ډول دسیسې او طرحې جوړولې«لکه د احد او خندق په غزاګانو کې») حَتَّىٰ د هغې پورې(یې د مسلمانانو په ضد دسیسې جوړلې،تر څو چې:) جَآءَ ٱلۡحَقُّ حق راغئ وَظَهَرَ أَمۡرُ ٱللَّهِ (او د الله تعالی دین غالب شو«په جزیرة العرب کې») وَهُمۡ كَٰرِهُونَ په داسې حال کې چې هغوی(یعنې منافقان)ناخوښه وو(د الله تعالی د دین په کامیابیدلو) ﴿٤٨﴾

وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ ٱئۡذَن لِّي وَلَا تَفۡتِنِّيٓۚ أَلَا فِي ٱلۡفِتۡنَةِ سَقَطُواْۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٩﴾

کله چې نبي علیه السلام د تبوک غزا ته د تللو اعلان وکړو«تبوک دشام د سرحد سره نژدې یوه منطقه ده،او د مدینې منورې څخه تقریباً د ۸۰۰ کیلومترو په فاصله کې واقع ده» نو منافقین به نبي علیه السلام ته راتلل

او قِسم-قِسم بهانې به يې د جهاد څخه د پاتې کيدلو دپاره جوړولې،نبي عليه السلام به هم اجازه ورکوله،په دې منافقينو کې داسې منافقين هم وو لکه «الجد بن قيس» چې د بنو سلمه د قبيلې سردار و،نبي عليه السلام ته راغئ،او ورته ئې وويل چې:اى د الله تعالى رسوله!ماته په مدينه منوره کې د پاتې کيدلو اجازه راکړه،او په فتنه کې مې مه اچوه،د شام ښځې ډېرې ښايسته دي،زه ويريږم که ما هغه ښځې وليدلې،نو زه بيا صبر نشم کولاى،يعني تقوى به مې خرابه شي،حال دا چې ايمان په کې نه وو خو د ځان د خلاصولو دپاره ئې دا خبره وکړه،رسول الله«صلى الله عليه وسلم» مخ ترې واړولو او وئې فرمايل چې:ما تا ته اجازه درکړه،اوس آيت ته توجه وکړئ!

وَمِنۡهُم او ځينې د دې(منافقانو) څخه مَّن هغه دي يَقُولُ (چې نبي عليه السلام ته) وايي چې ٱئۡذَن لِّي اجازه راکړه(د جهاد څخه د پاتې کيدلو) وَلَا تَفۡتِنِّيٓۚ او په فتنه کې مې مه اچوه أَلَا خبردار فِي ٱلۡفِتۡنَةِ چې په فتنه کې سَقَطُواْۗ پريوتې دي دوى(ځکه په کومه بې آدبه طريقه ئې چې د نبي عليه السلام څخه د پاتې کيدلو اجازه وغوښتله،او جهاد ته لاړ نشو،نو د دې څخه بله کومه لويه فتنه ده چې:بې آدبه د دروغو عذر ئې جوړ کړو،او د جهاد څخه پاتې شو. وَإِنَّ او بېشکه جَهَنَّمَ جهنم لَمُحِيطَةُۢ احاطه کوونکئ دى بِٱلۡكَٰفِرِينَ په کافرانو باندې(دلته اشاره ده چې: منافقان،کافران دي.) ﴿٤٩﴾

إِن تُصِبۡكَ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡۖ وَإِن تُصِبۡكَ مُصِيبَةٞ يَقُولُواْ قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا مِن قَبۡلُ وَيَتَوَلَّواْ وَّهُمۡ فَرِحُونَ ﴿٥٠﴾

د منافقينو بل صفت دا دى چې:

إِن که تُصِبۡكَ دررسيږي تا ته حَسَنَةٞ يوه خوشالي (او نيکي نو) تَسُؤۡهُمۡۖ دوی خفه کيږي وَإِن او که چيرته تُصِبۡكَ دررسيږي تا ته مُصِيبَةٞ يو مصيبت(او تکليف،نو بيا!) يَقُولُواْ وايي دوی قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا مِن قَبۡلُ چې مونږ خو د مخکې څخه خپل کار درست کړئ وو(يعني مونږ خو د دوی په شان کم عقل نه يو،مونږ مخکې د مخکې څخه د دې بد حالت څخه د حفاظت کولو بندو بست کړئ وو،د کوم سره چې مسلمانان مخ شو،مثلاً کله چې د بدر په غزا کې مسلمانانو فتحه کړې وه،نو منافقان خفه وو،ليکن د احد په غزا کې چې ۷۰ کسان صحابه کرام شهيدان شول نو منافقانو به ويلې چې:مونږ پوهيدلو ځکه مونږ ورسره لاړ نشو،او که ورسره تللي وو نو اوس به مونږ هم وژل شوي وو.) وَيَتَوَلَّواْ او ګرځې دوی(او ځي دوی ستا د مجلس څخه ای محمد«صلی الله عليه وسلم») وَّهُمۡ په داسې حال کې چې دوی فَرِحُونَ خوشاله وي(ستا په تکليف باندې) ﴿٥٠﴾

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿٥١﴾

(ای محمد«صلی الله عليه وسلم» منافقينو ته!)

قُل ووايه لَّن يُصِيبَنَآ چې:هيڅکله به راونه رسيږي مونږ ته (هيڅ خير او شر) إِلَّا پرته مَا د هغه(خير او شر) څخه كَتَبَ چې ليکلئ دی ٱللَّهُ الله تعالی لَنَا مونږ ته(د خپل علم څخه په لوح محفوظ کې،او) هُوَ هغه«جل جلا له» مَوۡلَىٰنَاۚ زمونږ کار ساز(او ساتونکئ) دی وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ (نو چې خير او شر د الله تعالی د طرف څخه دي،کار ساز او ساتونکئ الله تعالی دی،بيا خو لازم ده چې) بايد په الله تعالی باندې توکل(او باور) وکړي ٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنان ﴿٥١﴾

قُلۡ هَلۡ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحۡدَى ٱلۡحُسۡنَيَيۡنِۖ وَنَحۡنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمۡ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٖ مِّنۡ عِندِهِۦٓ أَوۡ بِأَيۡدِينَاۖ فَتَرَبَّصُوٓاْ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ﴿٥٢﴾

اى محمد«صلى الله عليه وسلم» منافقينو ته!

قُلۡ ووايه چې هَلۡ آيا تَرَبَّصُونَ تاسو انتظار(او اميد) كوئ بِنَآ زمون په باره كې إِلَّآ پرته إِحۡدَى د يو ٱلۡحُسۡنَيَيۡنِۖ د دوه غوره(او بهترو شيانو يعني د فتحې او شهادت څخه؟بلكې نه يې كوئ،او نه يې كولاى شئ،ځكه چې دريم شى شته نه دى،بس خو يا فتحه ده او يا شهادت دى،او دا دواړه زمونږ دپاره كاميابې ده) وَنَحۡنُ او مونږ نَتَرَبَّصُ انتظار كوو(او مونږ اميد لرو) بِكُمۡ ستاسو په باره كې أَن چې يُصِيبَكُمُ تاسو ته به دركړي ٱللَّهُ الله تعالى بِعَذَابٖ عذاب مِّنۡ عِندِهِۦٓ د خپل طرف څخه (پخپله) أَوۡ بِأَيۡدِينَاۖ يا به زمونږ په لاسونو (عذاب دركړي) فَتَرَبَّصُوٓاْ نو تاسو(هم) انتظار كوئ إِنَّا مَعَكُم (او) مونږ به (هم) ستاسو سره مُّتَرَبِّصُونَ منتظر يو.(تاسو زمونږ د فتحې يا شهادت انتظار كوئ،او مونږ به په تاسو باندې د الهې عذاب د راوستلو انتظار كوو) ﴿٥٢﴾

قُلۡ أَنفِقُواْ طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمۡ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴿٥٣﴾

وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ﴿٥٤﴾

بايد ذكرشي چې د تبوک غزا فرض عين وه يعنې پرته د شرعي عذر څخه هر مسلمان بايد په كې شريک شوئ و،ليكن منافقينو به نبي عليه السلام ته يو څه چندې راوړلې،او ورته به يې ويلې چې دا قبولې كړه،او

پخپله به يې بهانې جوړولې،نو الله تعالى فرمايې چې:(اى محمد«صلى الله عليه وسلم» منافقانو ته!

قُلۡ ووايه أَنفِقُواْ (كه) تاسو مصرف كوئ(د الله تعالى په لار كې) طَوۡعًا په خپله خوښه أَوۡ يا كَرۡهًا په ناخوښى(او مجبوريت سره،يعني يا د ريا او شهرت او يا د ويرې او ظاهرې اسلام د ساتلو دپاره، د الله په لار كې يوځه كومک كوئ،تر څو مسلمانان ستاسو په منافقت او كفر پوه نشي،خو د ايمان نه پرته نفقه) لَّن يُتَقَبَّلَ هيڅكله نه قبليږي مِنكُمۡ د ستاسو نه(د الله تعالى په دربار كې،ځكه چې:) إِنَّكُمۡ بېشكه تاسو كُنتُمۡ ياستئ قَوۡمًا فَٰسِقِينَ يو فاسق(او نافرمانه) قوم ﴿٥٣﴾

وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ او هيڅ شى د دوى(يعني د منافقانو) د صدقې د قبليدلو نه مانع كيږي إِلَّآ مګر(كوم شى چې د الله تعالى په دربار كې د دوى د صدقاتو د قبليدلو مانع كيږي،هغه دا دى!) أَنَّهُمۡ چې بېشكه دوى كَفَرُواْ كفر كوي بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَبِرَسُولِهِۦ او د هغه«جل جلاله» په پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» باندې(يعني هيڅ شى د منافقانو د صدقې د قبليدلو مخه نه نيسې پرته د دوى د كفر څخه. اشاره ده د منافقانو حقيقت ته چې:دوى په الله تعالى او په پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» باندې ايمان نلرې،كافران دي،د ثواب په نيت صدقه نه كوي،نو د همدې كفر په سبب يې د الله تعالى په لار كې نفقه كول نه قبليږي،اوس دا خبره ده چې:منافق خو په خوله نه وايي چې زه منافيق يم،او د زړونو څخه يې څوک خبر نه دي،نو دوى به پيژندل كيږي څنګه؟د زړونو مالک، الله تعالى مونږ ته د دوى نښې او علامې ښايې،فرمايې!) وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ دوى لمونځ ته نه راځي (دوى لمونځ نكوي) إِلَّا مګر وَهُمۡ په داسې حال كې(يې كوي) كُسَالَىٰ چې سست(او زړه نا زړه

وي،او بله نښه يې دا ده چې:) وَلَا يُنفِقُونَ د الله تعالى په لار کې مصرف نکوي إِلَّا مګر وَهُمۡ په داسې حال کې( يې کوي) كَٰرِهُونَ چې ناخوښه وي(زړه يې نه وي،خو د ريا او شهرت او يا د مجبوريت او د ويرې څخه يې کوي) ﴿٥٤﴾

فَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٥٥﴾

فَلَا تُعۡجِبۡكَ نو په تعجب کې دې وا نچوي تا(دوکه دې نکړي تا) أَمۡوَٰلُهُمۡ مالونه د هغوی وَلَآ او نه أَوۡلَٰدُهُمۡۚ اولادونه د هغوی(يعني د منافقانو په مال دولت او اولادونو دوکه نشي،چې ګڼې دوی ډېر خوشاله او د سکون څخه ډک ژوند لري) إِنَّمَا بېشکه(حقيقت دا دی چې:د دوی د کفر او منافقت په سبب د الله تعالى عدالت په دوی د عذاب فيصله کړې ده) يُرِيدُ ٱللَّهُ الله تعالى اراده لري لِيُعَذِّبَهُم چې دوی ته عذاب ورکړي بِهَا په دې (مال او اولاد سره) فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا د دنيا په ژوند کې(يعني منافقان چې د مال او دولت د ګټلو او جمع کولو دپاره کوم تکليفونه او مشقتونه تيروي ، دا يو عذاب دی،او بيا د ميراثخورو د مال ساتل بل عذاب دی،او که په کومه حادثه کې د ټول عمر ګټلئ مال او دولت تباه او د منځه لاړ شي،دا بل عذاب دی،چې ټول عمر به زوريږي.نافرمانه اولاد او ښځه داسې دردونکئ عذاب دی چې:نه سړی مړ کيږي او نه ژوند کولای شي،او نور.......) وَتَزۡهَقَ او وځي أَنفُسُهُمۡ روحونه د هغوی وَ په داسې حال کې هُمۡ چې هغوی كَٰفِرُونَ کافران وي(ټول عمر وربانديې د مال په ګټلو،جمع کولو او ساتلو کې تير شي،او د مرګ فريشتې ورته په داسې وخت کې راشي چې بې توبې او بې ايمانه د دنيا نه لاړ شي.) ﴿٥٥﴾

وَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمۡ لَمِنكُمۡ وَمَا هُم مِّنكُمۡ وَلَٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٞ يَفۡرَقُونَ ﴿٥٦﴾

لَوۡ يَجِدُونَ مَلۡجَـًٔا أَوۡ مَغَٰرَٰتٍ أَوۡ مُدَّخَلٗا لَّوَلَّوۡاْ إِلَيۡهِ وَهُمۡ يَجۡمَحُونَ ﴿٥٧﴾

وَيَحۡلِفُونَ او هغوى(يعني منافقان) قسمونه خوري(تاسو ته) بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې (اى مسلمانانو،چې:) إِنَّهُمۡ بېشکه هغوى لَمِنكُمۡ خامخا ستاسو (د ډلې) نه دي وَ حال دا چې مَا هُم نه دي دوى مِّنكُمۡ د ستاسو(د ډلې) څخه وَلَٰكِنَّهُمۡ ليکن دوى قَوۡمٞ (داسې) خلک دي يَفۡرَقُونَ چې ويرېږي(ستاسو څخه،صرف د مسلمانانو د ويرې لمونځونه او خيراتونه کوي،هسې په خوله درسره ځانونه خواږه-خواږه کوي،ليکن په زړه کې يې نه تاسو خوښيږئ،او نه يې ستاسو دين خوښيږي،او دومره سخت نفرت درڅخه کوي چې:) ﴿٥٦﴾ لَوۡ که چيرته يَجِدُونَ دوى پيدا کړي مَلۡجَـًٔا کوم د پناه ځاى يا أَوۡ مَغَٰرَٰتٍ کوم غار(سمڅه) أَوۡ يا مُدَّخَلٗا کوم د ننوتلو ځاى(سرپناه،نو) لَّوَلَّوۡاْ خامخا به دوى لاړ شي إِلَيۡهِ هغه(ځاى) ته وَ په داسې حال کې چې: هُمۡ هغوى يَجۡمَحُونَ به منډې وهي(يعني که بل چيرته د اوسيدلو ځاى پيدا کړي،ډېر زر به در څخه لاړ شي) ﴿٥٧﴾

وَمِنۡهُم مَّن يَلۡمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ فَإِنۡ أُعۡطُواْ مِنۡهَا رَضُواْ وَإِن لَّمۡ يُعۡطَوۡاْ مِنۡهَآ إِذَا هُمۡ يَسۡخَطُونَ ﴿٥٨﴾

ځينې منافقانو په نبي عليه السلام باندې د صدقاتو د تقسيمولو په باره کې اعتراضونه کول،ويل به يې چې: نبي عليه السلام نعوذبالله د عدل او انصاف څخه کار نه اخلي،تر دې چې يوه ورځ د مال د تقسيولو په وخت کې يو منافق وويلې چې:(يا مُحَمَّدُ اعْدِل) اى محمد«صلى الله عليه وسلم» په انصاف سره تقسيم کوه،نبي عليه السلام ته غصه ورغله او ويې

فرمايل: هلاک شي چې زه عدل ونکړم نو نور به يې څوک وکړي.آيت ته توجه وکړئ!

وَمِنۡهُم او ځينې د دې(منافقانو)څخه مَّن هغه څوک دي يَلۡمِزُكَ چې اعتراض کوي په تا فِي ٱلصَّدَقَٰتِ د صدقاتو(په تقسيمولو)کې فَإِنۡ خو که چيرته أُعۡطُواْ ورکول شي دوی ته(د دوی په خوښه) مِنۡهَا د هغې( صدقې د مال)څخه رَضُواْ دوی خوشالیږي(ځکه چې په دوی کې ايمان نشته،د آخرت په غم کې نه دي،صرف دنيا غواړي) وَإِن او که چيرته لَّمۡ يُعۡطَوۡاْ ورنه کول شي(د دوی په خوښه) مِنۡهَآ د هغې(صدقې د مال) څخه إِذَا (نو)په هغه وخت کې هُمۡ دوی يَسۡخَطُونَ په غصه کيږي(ځکه چې دوی د غم او خوشالۍ دپاره معيار صرف دنيا انتخاب کړي ده،او آخرت يې پريښئ دی،د دنيا په ګټلو خوشاليږي،او د دنيا په تاوان خفه کيږي.) ﴿٥٨﴾

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ رَضُواْ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ سَيُؤۡتِينَا ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ وَرَسُولُهُۥٓ إِنَّآ إِلَى ٱللَّهِ رَٰغِبُونَ ﴿٥٩﴾

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ او که چيرته دوی رَضُواْ خوشاله (او راضي) شوي وو مَآ په هغه(مال) ءَاتَىٰهُمُ چې ورکړئ وو دوی ته ٱللَّهُ الله تعالی وَرَسُولُهُۥ او د هغه«جل جلاله» پيغمبر«صلی الله عليه وسلم» وَقَالُواْ او ويلې يې وو،چې: حَسۡبُنَا کافي دی مونږ ته(بس دی مونږ ته) ٱللَّهُ الله تعالی سَيُؤۡتِينَا (او که ويلې يې وو،چې:) را به کړي مونږ ته ٱللَّهُ الله تعالی مِن فَضۡلِهِۦ د خپل فضل(او مهربانۍ) څخه(نور مال) وَرَسُولُهُۥٓ او د هغه «جل جلاله» پيغمبر«صلی الله عليه وسلم (به هم نور مال راکړي،او که ويلې يې وو چې:) إِنَّآ بېشکه مونږ إِلَى ٱللَّهِ الله تعالی ته رَٰغِبُونَ

اميدوار(او تمه لرونکي يو،او د هغه جل جلاله څخه هر څه غواړو.نو که دوی داسې ويلي وو، د دوی دپاره به ډېر بهتر وو.) ﴿٥٩﴾

۞ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ دفقيرانو دپاره وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٦٠﴾

۞ إِنَّمَا بېشکه خبره دا ده چې: ٱلصَّدَقَٰتُ صدقات(يعنې زکاتونه صرف) لِلۡفُقَرَآءِ د فقيرانو دپاره دي وَٱلۡمَسَٰكِينِ او د مسکينانو دپاره دي وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا او د صدقو د کارکوونکو دپاره دي(هغوی چې صدقې راټولوي،ليکي يې،حفاظت يې کوي او تقسيموي يې) وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ او د هغوی دپاره دي چې زړونه يې لاس ته راوړل مقصد وي(د اسلام او د الله تعالی د رضاء دپاره) وَفِي ٱلرِّقَابِ او د غلامانو په ازادولو کې د مصرفولو دپاره دي وَٱلۡغَٰرِمِينَ او د قرضدارانو(د قرض د خلاصولو)دپاره دي وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ او د الله تعالی په لار کې (د مصرفولو)دپاره دي وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ او د مسافرو(سره د کومک کولو)دپاره دي فَرِيضَةٗ (داحقونه)تعين(او مقرر شوي دي) مِّنَ ٱللَّهِۗ د الله تعالی د طرف څخه وَٱللَّهُ او الله تعالی عَلِيمٌ حَكِيمٞ عليم (او)حکيم دی. ﴿٦٠﴾

وَمِنۡهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلنَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٞۚ قُلۡ أُذُنُ خَيۡرٖ لَّكُمۡ يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤۡمِنُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡۚ وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٦١﴾

وَمِنۡهُمُ او د دې(منافقانو) څخه ځينې ٱلَّذِينَ هغه دي يُؤۡذُونَ چې ضرر رسوي (تکليف ورکوي) ٱلنَّبِيَّ نبي عليه السلام ته وَيَقُولُونَ او وايي چې: هُوَ هغه «صلی الله علی وسلم» أُذُنٞۚ «خوش باوره دی»(د

هرچا خبره اورې او يقين پرې كوي،يعني مونږ د دروغو بهانې ورته جوړو،او هغه عليه السلام يې منې،دوى فكر كولو چې ګني، نعوذ باالله نبي عليه السلام زمونږ په دروغو نه پوهيږي،ساده سړى دى،او مونږ يې دوكه كوو،يعني د هغه مبارك«صلى الله عليه وسلم»د نرمى او ښو اخلاقو څخه يې بده فايده اخستله) قُلۡ ته ( ورته) ووايه أُذُنُ «چې دا خوش باورې» (د نبى عليه السلام خو) خَيۡرٖ خير(اوبهتره ده) لَّكُمۡ ستاسو دپاره(دا خو د نبى عليه السلام لوړ اخلاق او شرافت دى،چې ستاسو دروغ نه رسوا كوي،او نه مو شرموي.) يُؤۡمِنُ هغه «صلى الله عليه وسلم» ايمان لرې بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَيُؤۡمِنُ او خبره منې لِلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو وَرَحۡمَةٞ او رحمت دى لِّلَّذِينَ هغو خلكو ته ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ دى مِنكُمۡۚ د ستاسو څخه وَٱلَّذِينَ او هغه خلك يُؤۡذُونَ چې:ضرر رسوې(چې:تكليف وركوي) رَسُولَ پيغمبر ٱللَّهِ د الله تعالى ته لَهُمۡ هغوى ته عَذَابٌ أَلِيمٞ درد ناكه عذاب دى ﴿٦١﴾

يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ لِيُرۡضُوكُمۡ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرۡضُوهُ إِن كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٦٢﴾

مسلمانانو منافقان د خيل پاكولي دپاره!

يَحۡلِفُونَ قسمونه خورې بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې لَكُمۡ تاسو ته لِيُرۡضُوكُمۡ د دې دپاره چې تاسو خوشاله(او مطمئين) كړي(چې دوى منافقان نه دي) وَٱللَّهُ حال دا چې الله تعالى وَرَسُولُهُۥٓ او د هغه«جل جلاله» پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» أَحَقُّ ډېر حقدار دي أَن چې يُرۡضُوهُ دوى خوشاله كړي هغه (يعني دوى بايد الله تعالى او د هغه پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» خوشاله كړي،او د منافقت څخه توبه وباسي،چاپلوسي او خوشامندې بايد صرف د الله تعالى وكړي،كه د الله

بندګانو ته هر څومره ځانونه پاک هم کړي،او د خپل ایمان څخه یې
مطمئین کړي،او هغوی ورته د ښو نیکانو په سترګه هم وګورې،لیکن د
الله تعالی د عذاب نه خو یې نشي خلاصولای،خو دا د منافقانو خاصیت
دی چې د مخلوق خوشالې او رضاء ورته د الله تعالی او د رسول
الله«صلی الله علیه وسلم» د خوشالی او رضاء څخه خوښه وي،د الله
تعالی او نبي علیه السلام څخه نه شرمیږي،خو د مخلوق نه شرمیږي) إِن
كَانُواْ که چیرته یې دوی مُؤۡمِنِينَ مؤمنان(یعني که دوی واقعاً مؤمنان
وي،نو باید چې د الله تعالی او د نبي علیه السلام د خوشالولو او
رضاءکولو کوشش وکړي،او د منافقت څخه توبه وباسي) ﴿٦٢﴾

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدٗا فِيهَاۚ ذَٰلِكَ
ٱلۡخِزۡيُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٦٣﴾

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ آیا دوی نه پوهیږي(آیا منافقان نه پوهیږي) أَنَّهُۥ چې بېشکه
هغه مَن څوک يُحَادِدِ چې مخالفت کوي ٱللَّهَ د الله تعالی وَرَسُولَهُۥ
او د هغه«جل جلاله» د پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» فَأَنَّ نو بېشکه
چې لَهُۥ هغه ته نَارَ اور جَهَنَّمَ د جهنم دی خَٰلِدٗا چې همیشه به
وي فِيهَاۚ په هغې(اور د جهنم کې) ذَٰلِكَ دا(په جهنم کې همیشه
اوسیدل) ٱلۡخِزۡيُ رسوایي ده ٱلۡعَظِيمُ ډېره لویه. ﴿٦٣﴾

يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ إِنَّ
ٱللَّهَ مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ﴿٦٤﴾

منافقانو به پېسې شاه د نبي علیه السلام او مسلمانانو پېسې خبرې او
مسخرې کولې،لیکن دا ویره به یې هم په زړه کې وه،چې هسې نه چې
زمونږ په باره کې په قرآن کې سورت نازل نشي،او زمونږ د زړونو د
حال څخه مسلمانان خبرشي.

يَحۡذَرُ ويريږي ٱلۡمُنَٰفِقُونَ منافقان أَن تُنَزَّلَ د نازليدلو څخه عَلَيۡهِمۡ په
هغوى باندې(په مسلمانانو باندې،په قرآنكريم كې) سُورَةٞ د يو سورت نه
تُنَبِّئُهُم چې خبر به كړي هغوى(چې خبر به كړي مسلمانان) بِمَا په
هغه(پټو خبرو او منافقت) فِي قُلُوبِهِمۡۚ چې د دوى په زړونو كې
دى(چې د منافقانو په زړونو كې دى،مسلمانانو او نبي عليه السلام ته)
قُلِ (اى محمد«صلى الله عليه وسلم» ورته) ووايه ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ كوئ
مسخرې إِنَّ ٱللَّهَ بېشك الله تعالى مُخۡرِجٞ ښكاره كوونكئ دى مَّا د
هغې (پټو خبرو دستاسو) تَحۡذَرُونَ چې تاسو ويريږئ(د هغې د ښكاره
كولو څخه) ﴿٦٤﴾

وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٦٥﴾

لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ إِن نَّعۡفُ عَن طَآئِفَةٖ مِّنكُمۡ نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ﴿٦٦﴾

د تبوك د غزا په وخت كې،منافقانو به د مجاهدينو د بې زړه كولو او د روميانو څخه د ويرولو دپاره داسې خبرې كولې چې:نبي عليه السلام د روم او شام د فتح كولو دپاره روان دى،هغوى ته هم د عربو په سترګه ګوري،روميان خو داسې منظم او قوي فوځ لري،چې مسلمانان به يې د رسيدلو سره سم تول په رسيو تړلي وي،بل منافق به غږ وكړو چې: خوند به وكړي چې سل-سل كوړې يا دورې يې هم
ووهي.............وغيره.اوس آيت ته توجه وكړئ!

وَلَئِن او كه چيرته سَأَلۡتَهُمۡ ته د هغوى نه پوښتنه وكړي(او كه ته چيرته د منافقانو نه پوښتنه وكړي،چې تاسو ولې داسې خبرې كړي دي،نو)
لَيَقُولُنَّ دوى به خامخا وايې إِنَّمَا بېشكه خبره دا ده كُنَّا نَخُوضُ

وَنَلۡعَبُۚ چې مونږ ساعت تیري او ټوقې کولې(یعني هغه زمونږ د زړه خبرې نه وې،مونږ خو د ساعت تیرۍ دپاره هسې ټوقې کولې) قُلۡ (دې منافقانو ته) ووایه) أَ آیا بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَءَايَٰتِهِۦ او د هغه«جل جلاله» په آیاتونو باندې وَرَسُولِهِۦ او د هغه«جل جلاله» په پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» باندې كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ تاسو مسخرې(او ساعت تیرې) کوله؟ (۶۵)

لَا تَعۡتَذِرُواْ (نو اوس) عذرونه(او بهانې) مه کوئ قَدۡ بیشکه كَفَرۡتُم تاسو کافر شوي يئ بَعۡدَ وروسته إِيمَٰنِكُمۡۚ ستاسو د ایمان(راوړلو څخه،یعني تاسو مرتد شوي یئ) إِن نَّعۡفُ که مونږ عفوه وکړو عَن طَآئِفَةٖ یوې ډلې مِّنكُمۡ د ستاسو ته (د دې نه معلومیږي چې د مرتد توبه قبلیږي،یعني که ستاسو څخه مونږ هغو مرتدو ته بخښنه وکړو چې توبه یې ویستلې ده،نو) نُعَذِّبۡ عذاب به ورکړو طَآئِفَةَۢ بلې ډلې ته بِأَنَّهُمۡ په دې سبب چې هغوی كَانُواْ مُجۡرِمِينَ مجرمان دي(ځکه چې توبه یې نه ده ویستلې،یعني څوک چې د الله تعالی د دین او نبي علیه السلام پورې خبرې او مسخرې کوې،هغوی کافر او مرتد دي،خو که د زړه څخه توبه وباسي الله تعالی یې توبه قبلوي،او که توبه ونه باسي کافر دی،مرتد دی،او آخرت ته به کافر د دنیا څخه ځي (احسن الکلام) نو هغه خلک چې د الله تعالی د دین او دیني علماوو پورې خبرې او ټوقې او مسخرې کوي،نو دا حضرات دې د قرآن په آینه کې ځانونه وګورې،او بیا دې مخکې د دې څخه چې د خالق مخ کې ودریږي،په خپله دې د خپل ځان په باره کې فیصله وکړي چې مسلمان دی او که مرتد؟) ﴿٦٦﴾

ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمُنكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمۡۚ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٦٧﴾

ٱلۡمُنَٰفِقُونَ منافقان سړي وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ او منافقانې ښځې بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ
يو د بل په شان دي (په كفر او منافقت كې) يَأۡمُرُونَ دوى امر
كوي(خلكو ته) بِٱلۡمُنكَرِ په ناروا(كارونو) وَيَنۡهَوۡنَ او منع
كوي(خلك) عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ د نيكو(كارونو) نه وَيَقۡبِضُونَ او بند ساتي
أَيۡدِيَهُمۡۚ لاسونه خپل( د الله تعالى په لار كې د مصرفولو څخه) نَسُواْ ٱللَّهَ
دوى الله تعالى هير كړئ فَنَسِيَهُمۡۚ نو الله تعالى دوى هير كړل إِنَّ
ٱلۡمُنَٰفِقِينَ بېشكه منافقان هُمُ همدوى ٱلۡفَٰسِقُونَ فاسقان دي(همدوى
نافرمانه دي) ﴿٦٧﴾

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِيَ حَسۡبُهُمۡۚ وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ﴿٦٨﴾

وَعَدَ ٱللَّهُ الله تعالى وعده كړي ده ٱلۡمُنَٰفِقِينَ د منافقانو سړيو سره
وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ او د منافقانو ښځو سره وَٱلۡكُفَّارَ او د كافرانو سره نَارَ د
اور جَهَنَّمَ د جهنم خَٰلِدِينَ چې هميشه به وي دوى فِيهَاۚ په هغې(اور د
جهنم) كې هِيَ دا (د جهنم عذاب) حَسۡبُهُمۡۚ دوى ته مناسب دى
وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ او الله تعالى په دوى لعنت كړئ دى وَلَهُمۡ او د دوى دپاره
عَذَابٞ مُّقِيمٞ نه ختميدونكئ عذاب دى. ﴿٦٨﴾

كَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنكُمۡ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرَ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا فَٱسۡتَمۡتَعُواْ بِخَلَٰقِهِمۡ فَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِخَلَٰقِكُمۡ كَمَا ٱسۡتَمۡتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُم بِخَلَٰقِهِمۡ وَخُضۡتُمۡ كَٱلَّذِي خَاضُوٓاْۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٩﴾

كَٱلَّذِينَ (تاسو منافقان) د هغو خلكو په شان يئ مِن قَبۡلِكُمۡ چې مخكې د
ستاسو څخه كَانُوٓاْ أَشَدَّ ډېر زيات وو مِنكُمۡ ستاسو څخه قُوَّةٗ په طاقت
وَأَكۡثَرَ أَمۡوَٰلٗا او زياتوالي د مال وَأَوۡلَٰدٗا او اولادونو(كې) فَٱسۡتَمۡتَعُواْ نو
فايده يې واخستله بِخَلَٰقِهِمۡ خپله برخه(د دنيا څخه) فَٱسۡتَمۡتَعۡتُم او

تاسو(هم) فايده واخستله بِخَلَٰقِكُمۡ خپله برخه كَمَا لكه څنګه چې
ٱسۡتَمۡتَعَ فايده اخستې وه ٱلَّذِينَ هغو خلكو مِن قَبۡلِكُم چې ستاسو څخه
مخكې وو بِخَلَٰقِهِمۡ خپله برخه وَخُضۡتُمۡ او مشغول شوئ تاسو(په
بحثونو كې) كَٱلَّذِي لكه هغوى چې خَاضُوٓاْۚ مشغول وو أُوْلَٰٓئِكَ
دغه(خلک) حَبِطَتۡ برباد شول أَعۡمَٰلُهُمۡ عملونه د دوى فِي ٱلدُّنۡيَا په
دنيا كې وَٱلۡأٓخِرَةِۖ او په آخرت كې وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه(خلک) هُمُ
همدوى ٱلۡخَٰسِرُونَ تاوانيان دي ﴿٦٩﴾

أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ وَأَصۡحَٰبِ
مَدۡيَنَ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ أَتَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ
أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٧٠﴾

أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ آيا نه دى را رسيدلئ دوى ته(منافقانو ته) نَبَأُ خبر ٱلَّذِينَ د
هغو خلكو مِن قَبۡلِهِمۡ چې د دوى څخه پخوا وو قَوۡمِ نُوحٖ د نوح عليه
السلام د قوم(چې د اوبو په طوفان باندې هلاک شول) وَعَادٖ او د
عاديانو(چې په باد باندې هلاک شول) وَثَمُودَ او د ثموديانو(چې په
زلزله او چغه سره هلاک شول) وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ او د ابراهيم عليه السلام
قوم(چې په ماشو باندې هلاک شول«حكمت القرآن») وَأَصۡحَٰبِ مَدۡيَنَ او
د مدين اوسيدونكې(يعني د شعيب عليه السلام قوم چې په زلزله او د اور
په باران باندې هلاک شول) وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ او د چپه شوو كليو(يعني د لوط
عليه السلام قوم چې كلي يې سرچپه راګوزار شو او بيا وربان‌دې د تيږو
باران وشو،او) أَتَتۡهُمۡ راغلې وو هغوى ته رُسُلُهُم پيغمبران د هغوى
بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ د ښكاره دلايلو(او معجزو سره،خو دوى نافرماني وكړه) فَمَا
كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ نو الله تعالى په دوى ظلم نه دى كړئ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ
أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ليكن دوى پخپله په خپلو ځانونو ظلم كولو) ﴿٧٠﴾

وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ
ٱلۡمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ
سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٧١﴾

وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنان سړي وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ او مؤمناني ښځې بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يو د بل ملګري(او دوستان) دي يَأۡمُرُونَ امر كوي دوى بِٱلۡمَعۡرُوفِ په نيكو كارونو باندې وَيَنۡهَوۡنَ او منع كوي عَنِ ٱلۡمُنكَرِ د بدو كارونو نه وَيُقِيمُونَ او آدا كوي(او كوي) ٱلصَّلَوٰةَ لمونځ وَيُؤۡتُونَ او وركوي ٱلزَّكَوٰةَ زكات وَيُطِيعُونَ او حكم مني ٱللَّهَ د الله تعالى وَرَسُولَهُۥٓۚ او د هغه«جل جلاله» د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» أُوْلَٰٓئِكَ دغه(خلک چې دي) سَيَرۡحَمُهُمُ ژر دى چې رحم به وكړي په دوى ٱللَّهُۗ الله تعالى إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالى عَزِيزٌ ډېر زورور حَكِيمٞ د حكمت خاوند دى. ﴿٧١﴾

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا
وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ
﴿٧٢﴾

وَعَدَ ٱللَّهُ الله تعالى وعده كړي ده ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو سړيو وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ او د مؤمنانو ښځو(سره) جَنَّٰتٖ د جنتونو تَجۡرِي چې بهيږي به مِن تَحۡتِهَا لاندې د هغې(جنتونو)څخه ٱلۡأَنۡهَٰرُ نهرونه خَٰلِدِينَ اوسيږي به دوى هميشه فِيهَا په هغې(جنتونو)كې وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ او (وعده كړي ده الله تعالى د) پاكو كورونو فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ په دائمي جنتونو كې وَرِضۡوَٰنٞ او رضاء مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى أَكۡبَرُۚ (د ټولو نعمتونو څخه) ډېره لويه ده ذَٰلِكَ دا( جنتونه او د الله تعالى رضاء حاصلول) هُوَ دغه ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ډېره لويه كاميابي ده. ﴿٧٢﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٧٣﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ اى نبي«صلى الله عليه وسلم» جَٰهِدِ جهاد وكړه ٱلۡكُفَّارَ د كفارو وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ او منافقانو سره وَٱغۡلُظۡ او سختي كوه عَلَيۡهِمۡۚ په هغوى باندې وَمَأۡوَىٰهُمۡ او ځاى د دوى جَهَنَّمُۖ جهنم دى وَبِئۡسَ او هغه(جهنم) ډېر بد ٱلۡمَصِيرُ ځاى د ورتللو دى. ﴿٧٣﴾

يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ يَنَالُواْۚ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ فَإِن يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرٗا لَّهُمۡۖ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٧٤﴾

په آيت د پوهيدلو دپاره ضرور معلومات.

د تبوک د غزا څخه د بيرته راتللو په وخت كې په لار كې ځينو منافقانو د نبي عليه السلام د وژلو پروګرام جوړ كړو،الله تعالى نبي عليه السلام د وحې په واسطه سره خبر كړو،او د منافقانو دسيسه ناكامه شوه.همدارنګه پسې شا به يې نبي عليه السلام ته نعوذبالله سپک الفاظ لکه ذليل او بې عزته استعمالول،ليكن چې نبى عليه السلام به خبر شو،او راوبه يې غوښتل،چې تاسو داسې -داسې خبرې كړې دي،نو هغوى به قسمونه خوړل چې دا خبرې مونږ نه دي كړې.آيت ته توجه وكړئ!

يَحۡلِفُونَ (كله چې د منافقانو څخه پوښتنه وكړې چې تاسو ولې داسې ويلې دي؟نو)هغوى قسمونه خوري بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې مَا قَالُواْ چې هغوى نه دي ويلې (يعني تا ته چې كومې خبرې رارسيدلې دا دروغ دي،مونږ خو نه خبر يو او نه مو داسې څه خبره كړې ده) وَلَقَدۡ حال دا

چې بېشکه قَالُواْ ويلي دي هغوی كَلِمَةَ الفاظ ٱلۡكُفۡرِ د كفر وَكَفَرُواْ او كافران شوي دي هغوی بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ پس د ايمان راوړلو د هغوی(د نبي عليه السلام او اسلام پسې د سپكو الفاظو د استعالولو په سبب) وَهَمُّواْ او(بل په دې سبب چې:) اراده كړي وه هغوی بِمَا د هغه (كار د كولو) لَمۡ يَنَالُواْۚ چې هغوی ونه شو كولای(يعني د نبي عليه السلام د وژلو پلان يې جوړكړۍ وو،او ناكام شو) وَمَا نَقَمُوٓاْ او دوی بدل وانه خستلو(د نبي عليه اسلام د مرګ په دسيسه جوړولو او په سپكو خبرو باندې) إِلَّآ مګر(د دې خبرې) أَنۡ چې أَغۡنَىٰهُمُ غنيان كړي و دوی ٱللَّهُ الله تعالی وَرَسُولُهُۥ او د هغه«جل جلاله» پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» مِن فَضۡلِهِۦۚ په فضل د هغه«جل جلاله» سره(يعني نبي عليه السلام ورته د الله تعالی دين راوړو،چې دوی ته ئې عزت او غناء وركړه،خو منافقان دومره پست خلک دي،په عوض د دې چې شكر وباسي،برعكس ناشكري يې وكړه،او د دې عظيم نعمت د منځه وړلو كوششونه يې شروع كړل،او شپه ورځ به يې د دې نعمت په ضد تبليغات كول.) فَإِن نو كه چيرته (اوس هم) يَتُوبُواْ دوی توبه وباسي(د منافقت څخه) يَكُ يې به(توبه ويستل) خَيۡرٗا بهتره لَّهُمۡۖ دوی ته(په دنيا او آخرت كې) وَإِن او كه چيرته يَتَوَلَّوۡاْ مخ واړوي(د توبې ويستلو څخه،نو) يُعَذِّبۡهُمُ عذاب به وركړي ٱللَّهُ الله تعالی عَذَابًا عذاب أَلِيمٗا درد ناک فِي ٱلدُّنۡيَا په دنيا كې وَٱلۡأٓخِرَةِۚ او په آخرت كې وَمَا لَهُمۡ او نه به وي دوی دپاره فِي ٱلۡأَرۡضِ په دنيا كې مِن وَلِيّٖ هيڅوک دوست وَلَا نَصِيرٖ او نه مددګار(چې د الله تعالی د عذاب څخه يې خلاص كړي). ﴿٧٤﴾

۞ وَمِنۡهُم مَّنۡ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنۡ ءَاتَىٰنَا مِن فَضۡلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾

۞ وَمِنۡهُم او ځینې د منافقانو څخه مَّنۡ هغه څوک دي عَٰهَدَ چې
وعده يې کړې وه ٱللَّهَ د الله تعالى سره(داسې) لَئِنۡ که چیرته ءَاتَىٰنَا
هغه«جل جلاله» راکړې مونږ ته مِن فَضۡلِهِۦ د خپل فضل
څخه(مال،نو) لَنَصَّدَّقَنَّ خامخا به مونږ صدقه ورکوو(خیراتونه به کوو)
وَلَنَكُونَنَّ او بېشکه شو به مونږ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ د نیکانو څخه. ﴿٧٥﴾

فَلَمَّآ خو کله چې ءَاتَىٰهُم هغه«جل جلاله» ورکړو دوی ته مِّن فَضۡلِهِۦ
د خپل فضل څخه(مال،نو) بَخِلُواْ دوی بخل وکړو بِهِۦ په هغه(مال)
باندې وَتَوَلَّواْ او وګرځیدل (او واوړیدل د خپلې وعدې څخه) وَّهُم
مُّعۡرِضُونَ او دوی(یعنې منافقان د وعدې څخه ګرځیدونکې او) مخ
اړونکې دي. ﴿٧٦﴾

فَأَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقٗا فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهُۥ بِمَآ أَخۡلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ
يَكۡذِبُونَ ﴿٧٧﴾

فَأَعۡقَبَهُمۡ نو هغه«جل جلاله» واچولو دوی ته (د سزا په توګه) نِفَاقٗا
نفاق(منافقت) فِي قُلُوبِهِمۡ په زړونو د دوی کې إِلَىٰ يَوۡمِ د هغې ورځې
پورې يَلۡقَوۡنَهُۥ چې دوی د هغه(جل جلاله) سره ملاقات کوي(یعنې د
جنت څخه محروم شو) بِمَآ ځکه چې أَخۡلَفُواْ دوی مخالفت وکړو ٱللَّهَ
د الله تعالى سره مَا د هغه (تړون) وَعَدُوهُ چې دوی يې د هغه«جل
جلاله» سره وعده کړې وه وَبِمَا او په دې سبب كَانُواْ يَكۡذِبُونَ چې
دوی به دروغ ویل. ﴿٧٧﴾

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ﴿٧٨﴾

أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ آیا دوی نه پوهیږي؟ أَنَّ ٱللَّهَ چې: بېشکه الله تعالى يَعۡلَمُ
پوهیږي سِرَّهُمۡ د دوی په پټو رازونو(او نیتونو) وَنَجۡوَىٰهُمۡ او د دوی

په پټو مشورو وَ او (آیا دوی په دې نه پوهېږي؟) أَنَّ ٱللَّهَ چې بېشکه الله تعالی عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ پوهېږي په ټولو غیبو(یعنې یو کار،یوه خبره او د زړه ارادې هم د الله تعالی څخه پټې نه دي) ﴿٧٨﴾

ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

د ښه پوهیدلو دپاره معلومات

کله چې نبي علیه السلام د تبوک د غزا دپاره د الله تعالی په لار کې د مصرفولو دپاره وفرمایل،صحابه کرامو رضی الله عنهم ډېره زبردسته د مال قرباني وکړه،څومره چې د چا وسه کیدله هغومره مال یې د نبي علیه السلام په حضور کې حاضر کړو،خو په دوی کې داسې صحابه کرام رضی الله عنهم هم موجود وو،چې هیڅ یې نلرل لکه ابوعقیل رضی الله عنه،چې ټوله شپه یې د یو یهودي سره مزدوري وکړه،یهودي د مزودورۍ په مقابیل کې یو څه خرما ورکړي،ابوعقیل رضی الله عنه نیمې خپلو اولادونو ته ورکړي او نیمې یې نبي علیه السلام ته راوړې،نبي علیه السلام د ده د اخلاص څخه ډېر زیات خوشاله شو،لیکن منافقانو خو په خپله د الله تعالی په لار کې مصرف نه کولو،خو نور خلک یې هم نه خوښیدل چې مال به یې راوړلو،بلکې خفه کیدل به،او خبرې به یې ورپسې کولې،چا به چې ډیر مال راوړو ویلې به یې چې دا سړی ریاکار دی،او چا به چې لږ راوړو لکه ابو عقیل رضی الله عنه،نو د هغه پورې به یې مسخرې کولې.آیت ته توجه وکړئ

ٱلَّذِينَ (دا منافقان) هغه خلک دي يَلۡمِزُونَ چې تهمت لګوي ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ «په خوشالۍ سره په خیرات کوونکو مؤمنانو باندې د صدقاتو په باره کې»(یعنې کومو مؤمنانو به چې په خوشالۍ سره

د الله تعالی د رضاء دپاره مال مصرفولو،منافقانو به ویلې چې دا د ریا دپاره صدقه ورکوي) وَٱلَّذِينَ او په هغو خلکو لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ (چې د هغوی سره پرته د خپلې مزدورۍ او مشقت څخه نور څه نشته«او د هغې څخه هم دوی د الله په لار کې مصرف کوي») فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ نو دوی(یعنې منافقان) د هغوی پورې مسخرې کوي. سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ (جزا به ورکړي الله تعالی دوی ته«د مسخرو د دوی») وَلَهُمۡ او د دوی دپاره عَذَابٌ أَلِيمٌ دردناک عذاب دی. ﴿٧٩﴾

ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةٗ فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٨٠﴾

ٱسۡتَغۡفِرۡ (ای پیغمبر«صلی الله علیه وسلم») که ته بخښنه غواړې لَهُمۡ د دوی دپاره(د منافقانو دپاره) أَوۡ یا لَا تَسۡتَغۡفِرۡ که بخښنه نه غواړې لَهُمۡ د دوی دپاره(د منافقانو دپاره،خو) إِن که چیرته تَسۡتَغۡفِرۡ ته بخښنه(هم)وغواړې لَهُمۡ د دوی دپاره(د منافقانو دپاره) سَبۡعِينَ اویا(٧٠) مَرَّةٗ کرته فَلَن يَغۡفِرَ نو هیڅکله به بخښنه ونکړي ٱللَّهُ الله تعالی لَهُمۡۚ دوی ته(منافقانو ته) ذَٰلِكَ دا بِأَنَّهُمۡ ځکه چې دوی(دا ځکه چې منافقانو) كَفَرُواْ کفر کړئ دی بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَرَسُولِهِۦۗ او د هغه«جل جلاله» په پیغمبر باندې وَٱللَّهُ او الله تعالی لَا يَهۡدِي نکوي هدایت ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ نافرمانو خلکو ته. ﴿٨٠﴾

فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ﴿٨١﴾

ضرور معلومات.

د تبوک غزا په ډېره ګرمۍ کې واقع شوه،مؤمنانو ځانونه تیار کړل او د نبي عليه السلام سره غزا ته روان شول ،لیکن منافقانو نبي عليه السلام ته قِسم-قِسم بهانې جوړې کړې،او په کورونو کې پاتې شول،او یوازې دا نه چې دوی پاتې شو،بلکې نورو خلکو ته یې هم ویلې چې:څه کوئ چې:په دې ګرمئ کې تبوک ته ځئ؟یعنې نور خلک یې هم د جهاد څخه منعه کول.آیت ته توجه وکړئ!

فَرِحَ خوشاله شو ٱلۡمُخَلَّفُونَ پاتې شوي خلک(د جهاد نه) بِمَقۡعَدِهِمۡ په خپلو کورونو کې خِلَٰفَ وروسته رَسُولِ ٱللَّهِ د رسول الله«صلی الله عليه وسلم» (د تللو څخه دتبوک غزا ته) وَكَرِهُوٓاْ او دوی بد ګڼلو أَن يُجَٰهِدُواْ جهاد کول بِأَمۡوَٰلِهِمۡ په خپلو مالونو وَأَنفُسِهِمۡ او ځانونو باندې فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لار کې وَقَالُواْ او(نورو خلکو ته یې هم) ویلې لَا تَنفِرُواْ چې مه ځئ فِي ٱلۡحَرِّۗ په(دې)ګرمۍ کې (تبوک ته) قُلۡ ته(ورته) ووایه نَارُ چې اور جَهَنَّمَ د جهنم أَشَدُّ حَرّٗاۚ ډېر زیات ګرم دی(د دې ګرمۍ څخه) لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ کاش چې دوی پوهیدل(او فکر او غور یې کولو) ﴿٨١﴾

فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٢﴾

فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا نو دوی باید لږ وخاندې وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا او ډېر وژاړي جَزَآءَۢ بِمَا په سبب د جزا د هغو(اعمالو) كَانُواْ يَكۡسِبُونَ چې دوی یې کوي.(ځکه چې دوی منافقت کوي او د منافقانو ځای جهنم دی) ﴿٨٢﴾

فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٖ مِّنۡهُمۡ فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِلۡخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخۡرُجُواْ مَعِيَ أَبَدٗا وَلَن تُقَٰتِلُواْ مَعِيَ عَدُوًّاۖ إِنَّكُمۡ رَضِيتُم بِٱلۡقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٖ فَٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡخَٰلِفِينَ ﴿٨٣﴾

فَإِن نو(ای نبي«صلى الله عليه وسلم» كه چيرته رَّجَعَكَ ته راوستي ٱللَّهُ الله تعالى(بيرته د تبوک د غزا څخه) إِلَىٰ طَآئِفَةٍ كومې ډلې ته مِّنۡهُمۡ د دوی(يعني كه مدينې منورې ته بيرته راغلې،او بيا د كفارو سره د جهاد ضرورت شي) فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ او دوی(يعني دا د تبوک د غزا څخه پاتې شوي منافقان) درڅخه اجازه وغواړي لِلۡخُرُوجِ د وتلو(د تللو جهاد ته) فَقُل نو ورته ووايه لَّن تَخۡرُجُواْ تاسو به ونه وځئ(جهاد ته) مَعِيَ زما سره أَبَدًا هيڅكله وَلَن تُقَٰتِلُواْ او نه به جنګ وكړئ مَعِيَ زما په ملګرتيا كې عَدُوًّاۖ د دښمن سره إِنَّكُمۡ بېشكه تاسو رَضِيتُم راضي شوي ياستئ بِٱلۡقُعُودِ په كښيناستلو باندې(په كورونو كې) أَوَّلَ مَرَّةٍ او ل كرت(د تبوک په غزا كې) فَٱقۡعُدُواْ نو(اوس هم) كښينئ(په كورونو كې لكه د اول ځل غوندې) مَعَ ٱلۡخَٰلِفِينَ (د جهاد نه) د پاتې شوو(ښځو،ماشومانو اومعذورو سړيو) سره. ﴿٨٣﴾

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾

وَلَا تُصَلِّ او مه كوه لمونځ(د جنازې) عَلَىٰٓ أَحَدٖ په هيڅ يو كس باندې مِّنۡهُم د هغوی (د منافقانو) مَّاتَ چې:مړ شي أَبَدٗا هيڅكله(د منافق په مړې باندې د جنازې لمونځ مه كوه) وَلَا تَقُمۡ او مه ودرېږه عَلَىٰ قَبۡرِهِۦٓۖ په قبر د هغه(او مه ودرېږه په قبر د منافق د دعاء دپاره) إِنَّهُمۡ بېشكه هغوی(بېشكه منافقانو) كَفَرُواْ كفر كړی دی بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَرَسُولِهِۦ او د هغه «جل جلاله» په پيغمبر باندې(ځكه چې منافقان د الله تعالى او د هغه«جل جلاله» د رسول«صلى الله عليه وسلم» نه منكر شوي دي. ) وَمَاتُواْ او مړه شوي دي دوی وَ په داسې حال كې چې:

هُمۡ هغوی فَٰسِقُونَ فاسقان وو.(د الله تعالی احکام او قانون يې نه منلو)
﴿٨٤﴾

وَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

وَلَا تُعۡجِبۡكَ او په تعجب کې دې وانچوي تا(او دوکه دې نکړي تا) أَمۡوَٰلُهُمۡ مالونه د هغوی(يعنې د منافقانو) وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ او اولا دونه د هغوی(يعنې د هغوی په زيات دولت او ډېرو اولادونو حيران او دوکه نشئ،چې:ګني دوی به ډېر خوشاله او ارام ژوند لرې،ليکن:) إِنَّمَا بېشکه(حقيقت دا دی چې:د دوی د کفر او منافقت په سبب د الله تعالی عدالت وربانديې په دنيا او آخرت کې د عذاب فيصله کړې ده،نو) يُرِيدُ ٱللَّهُ الله تعالی اراده لرې أَن يُعَذِّبَهُم چې دوی ته عذاب ورکړې بِهَا په دغه(دولت او اولادونو سره) فِي ٱلدُّنۡيَا په دنيا کې(يعنې منافقان چې د مال او دولت د ګټلو او جمع کولو دپاره شپه او ورځ کوم تکليفونه،بې خوبی،او په کلونو-کلونو نه ستړې کېدونکې کارونه کوي،دا يو عذاب دی،ځکه کوم دولت چې د سړي د جنت د تللو زريعه نشي،نو د داسې دولت د حاصلولو دپاره په کلونو-کلونو سخت او شاقه کارونه،بې خوبی او قِسم-قِسم خطرونه قبلول،آيا دا عذاب نه دی نو څه شی دی؟خو دا چې مونږ نه پوهيږو او يا ځانونه نه پوهوو،دا نو بيله خبره ده.او بيا په زوړ او مريض ځان په تير عمر د ميراث خورو د مال ساتل دا بل عذاب دی،ځکه چې پخپله خو يې نه خوړلای شي او نه ورځخه څه خوند اخستلای شي،بس ټول ميراث خورو ته امانت پاتې کيږي.او که په کومه حادثه کې يې د ټول عمر ګټلئ مال او دولت د منځه لاړ شي،دا بل عذاب دی،چې د مرګ پورې به ټول عمر زوريږي ،خوب به يې ورک وي،په ګوليو او د نشې په موادو(ډرګزو) به

اوده كيږي او هيڅ شی به هم خوند نه ورکوي.او نافرمانه ښځه او اولاد
خو داسې سخت دردونکئ عذاب دی چې نه سړی مړ کيږي او نه ژوند
کولای شي......) وَتَزۡهَقَ او وځي أَنفُسُهُمۡ روحونه د دوی وَ په
داسې حال کې هُمۡ چې دوی كَٰفِرُونَ كافران وي. ﴿٨٥﴾

وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾

وَإِذَآ او كله چې أُنزِلَتۡ نازل شي سُورَةٌ يو سورت أَنۡ ءَامِنُواْ
چې:ايمان راوړئ بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَجَٰهِدُواْ او جهاد وكړئ
مَعَ رَسُولِهِ د هغه«جل جلاله» د پيغمبر«صلى الله عليه وسلم»په ملګرتيا
كې ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ (نو) اجازه غواړي ستا څخه (د جهاد څخه د پاتې كيدلو)
أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ طاقتور(او مالدار) مِنۡهُمۡ د هغوی وَقَالُواْ او وايې ذَرۡنَا
پرېږده مونږ نَكُن چې يو مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ (په كورونو كې) د
ناستو(ښځو،ماشومانو او معذورو سړيو) سره ﴿٨٦﴾

رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ﴿٨٧﴾

رَضُواْ راضي شو دوی بِأَن په دې چې يَكُونُواْ ( پاتې) شي دوی
مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ د پاتې شوو(ښځو،ماشومانو او معذورو سړيوو) سره (په
كورونو كې) وَطُبِعَ او(د دوی د منافقت په سبب) مهرونه وهل شوي
دي عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ د دوی په زړونو باندې فَهُمۡ نو دوی لَا يَفۡقَهُونَ نه
پوهيږي. ﴿٨٧﴾

لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡخَيۡرَٰتُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٨٨﴾

لَٰكِنِ ليكن ٱلرَّسُولُ پيغمبر«صلى الله عليه وسلم» وَٱلَّذِينَ او هغه
خلك ءَامَنُوا۟ چې ايمان يې راوړئ مَعَهُۥ د هغه سره جَٰهَدُوا۟ جهاد
يې وكړو بِأَمْوَٰلِهِمْ په خپلو مالونو باندې وَأَنفُسِهِمْ ۚ او په خپلو ځانونو
باندې وَأُو۟لَٰٓئِكَ او دغه خلك(چې دي) لَهُمُ دوی دپاره ٱلْخَيْرَٰتُ ۖ
فايدې دي(په دنيا او آخرت كې) وَأُو۟لَٰٓئِكَ او دغه خلك هُمُ همدوی
ٱلْمُفْلِحُونَ كامياب دي. ﴿٨٨﴾

أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ
﴿٨٩﴾

أَعَدَّ تيار كړي دي ٱللَّهُ الله تعالى لَهُمْ دوی ته جَنَّٰتٍ جنتونه تَجْرِي
چې بهيږي به مِن تَحْتِهَا لاندې د هغې(جنتونو) ٱلْأَنْهَٰرُ نهرونه
خَٰلِدِينَ همېشه به اوسيږي دوی فِيهَا ۚ په دې جنتونو كې ذَٰلِكَ دا (د تل
دپاره په جنتونو كې اوسيدل) ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ډېره لويه كاميابي ده ﴿٨٩﴾

وَجَآءَ ٱلْمُعَذِّرُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۚ
سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٠﴾

اوس د مديني منورې څخه د باندې كليو او باندو د منافقانو احوال
بيانيږي،په دوی كې داسې خلك هم وو چې عذرونه يې صحيح وو،او
ځينې داسې وو چې هسې د دروغو بهانې يې جوړولې او د نبي عليه
السلام څخه به يې د تبوك د غزا څخه په كور د پاتې كيدلو اجازه
غوښتله،ليكن ځينې داسې سپين سترګې او بې حيا هم په كې وو،چې د
دروغو د بهانو دپاره هم نبي عليه السلام ته رانغلل،او هيڅ پروا يې د نبي
عليه السلام ونكړه،اصلاً دا نو هغه منافقان وو چې:فقط په ژبه يې كليمه
ويلې وه،خو په زړه كې يې نه الله تعالى منلئ وو او نه يې نبي عليه السلام
منلئ وو.الله تعالى فرمايي!

وَجَآءَ او راغلل ٱلۡمُعَذِّرُونَ عذر کوونکي مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ د اعرابو
ښځه( يعني د کليو او باندو خلک) لِيُؤۡذَنَ د دي دپاره چي اجازه ورکول
شي لَهُمۡ هغوی ته(د جهاد ښځه په کورونو کي د پاتي کيدلو) وَقَعَدَ او
کيناستل(او پاتي شو په کورونو کي پرته د عذر او د نبي عليه السلام د
اجازي ښځه په خپل سر) ٱلَّذِينَ هغه خلک كَذَبُواْ چي دروغ يي ويلي
وو ٱللَّهَ الله تعالی وَرَسُولَهُۥ او د هغه پيغمبر«صلى الله عليه وسلم»
ته(په ايمان راوړلو کي،نو) سَيُصِيبُ زر دی چي وبه رسيږي (وربه
کول شي) ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُواْ چي کفر يي کړئ دی مِنۡهُمۡ د
دي(کليوالو او باندو چيانو ښځه) عَذَابٌ أَلِيمٌ دردونکئ عذاب. ﴿٩٠﴾

لَّيۡسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ
حَرَجٌ إِذَا نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ مِن سَبِيلٖۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ
﴿٩١﴾

لَّيۡسَ نشته عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ په ضعيفانو باندي وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ او نه
په مريضانو باندي وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ او نه په هغو خلکو باندي لَا يَجِدُونَ
چي نشي پيداکولای(چي نلري) مَا هغه(اندازه مال او توښه) يُنفِقُونَ
چي مصرف يي کړي(يعني د مصرف وسه يي نه کيږي،نه توره لري،نه
آس لري او نه د خوراک دپاره پيسي لري،نو دا دري ډوله خلک يعني
ضعيفان،مريضان او بي وسي غريب خلک که په کورونو کي پاتي
شي،نو په دوی باندي نشته دی هيڅ) حَرَجٌ ګناه(چي پاتي شي،ليکن په
دي شرط) إِذَا کله چي(د زړه د کومي ښځه) نَصَحُواْ وفادار وي
دوی لِلَّهِ الله تعالی ته وَرَسُولِهِۦ او د هغه«جل جلاله» پيغمبر«صلى
الله عليه وسلم» ته مَا (او) نشته عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ په نيکانو باندي مِن

سَبِيلٍۚ هيڅ لار د(ملامتيا او الزام) وَٱللَّهُ او الله تعالى غَفُورٞ بخښوونکئ رَّحِيمٞ مهربان دى. ﴿٩١﴾

وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾

وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ او نه په هغو خلكو باندې(ګناه شته دى) إِذَا مَآ أَتَوۡكَ كله چې راغلل تا ته لِتَحۡمِلَهُمۡ د دې دپاره چې سورلۍ وركړې هغوى ته(جهاد ته د تللو دپاره ځكه چې تبوک تقريباً ۸۰۰ كيلومتره لرې و،او ګرمي هم ډېره وه،او) قُلۡتَ تا (ورته) وويلې لَآ أَجِدُ چې زه نشم برابرولئ مَآ هغه څه أَحۡمِلُكُمۡ چې سواره كړم تاسو عَلَيۡهِ په هغې باندې(يعنې تاسو ته د تبوک د غزا دپاره سورلۍ نشم برابرولئ،نو) تَوَلَّواْ بيرته لاړل هغوى وَّأَعۡيُنُهُمۡ په داسې حال كې چې د هغوى د سترګ څخه تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ اوښكې بهيدلې حَزَنًا ( د دې) غم نه أَلَّا يَجِدُواْ چې نه شو برابرولاى دوى مَا هغه (مصارف) يُنفِقُونَ چې دوى يې مصرف كړي(د تبوک د غزا دپاره يعنې په خپله بې وسى او غريبى يې ژړل) ﴿٩٢﴾

۞ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ وَهُمۡ أَغۡنِيَآءُۚ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٩٣﴾

۞ إِنَّمَا بېشكه حقيقت دا دى ٱلسَّبِيلُ چې اعتراض(او ګناه) عَلَى ٱلَّذِينَ په هغو خلكو باندې ده يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ چې ستا نه(د جهاد څخه د پاتې كيدلو) اجازه غواړي وَهُمۡ حال دا چې: دوى أَغۡنِيَآءُ مالدار دي( هيڅ مشكل نلري،وسه او طاقت لري،خو) رَضُواْ دوى خوښ دي بِأَن په دې سره چې يَكُونُواْ پاتې شي(په كورونو كې) مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ د پاتې شوو (ښځو،ماشومانو او معذورو سړيو سره) وَطَبَعَ او مهر لګولئ ٱللَّهُ الله

تعالی عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ په زړونو د دوی باندې(په سبب د منافقت او بدو اعمالو د دوی) فَهُمۡ نو دوی لَا يَعۡلَمُونَ نه پوهيږي.(چې د دې منافقت او بدو اعمالو په سبب به د څه قِسم سرنوشت سره مخامخ کيږي). ﴿٩٣﴾